# شریعت

اونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک نشراتی ارگان

لومړی کال | اته دیرشمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دمیزان دمیاشتي (۲) | د۱۹۹۶میلادي کال سپتمبر (۲۳) | د۱۴۱۷ هـ ق کال جمادي الأول (۱۱)


**خیانت مه کوی**

لوي خداي «جل جلاله» فرمایي : « اي هغو کسانو چي ایمان یي راوري دي ( اي مؤمنانو! له الله «جل جلاله» اوله رسول (صلي الله علیه وسلم ) سره خیانت مه کوي.
اوپه خپلو امانتونو کي خیانت مه کوي، حال داچي تاسي پوهیږي چي دامانت ساتل واجب دي.

سورة الأنفال ۲۷

**کبرجن جنت ته نشي تلای**

حضرت ابن مسعود( رضي الله عنه) وایي: دالله رسول ( صلي الله علیه وسلم) فرمایلي دي: « دچاپه زړه کي چي دمثقال د زري غوندي کبر وي، هغه به جنت ته ولاړ نشي، یوه سړي وویل: سړي خو دا خوښوي چي جامي اوبوټونه یي ښایسته وي( نودا به هم کبر وي؟) هغه ( صلي الله علیه وسلم) وفرمایل: الله «ج» ښایسته دی، ښایست خوښوي، کبر حق باطلول اوخلکو ته په خواره سترگه کتل دي.
(مسلم - مشکوة)

# دکنړ ولایت په بشپړه توگه فتح شو

## دجانداد دمرستیال شیرافضل په شمول د ائتلافی اداری گڼ شمیر مړي پرځای پاتی شول

دشریعت خبریال له جلال آباد څخه خبر راکوی چي دهفتي په ورځ دطالبانو داسلامی تحریک دمجاهدینو دورځي په اتو بجو دکنړ دولایت دخیوی په ولسوالي باندی دتصفیی عملیات پیل کړل چي په نتیجه کی یی دکابل اداری دمزدور قوماندان جانداد مرستیال شیرافضل سره له زیات شمیر کرایی مفسدینو ووژل شو اوپاتی یی وتښتیدل ، وروسته دطالبانو داسلامی تحریک مجاهدینو دکنړ داسد آباد ته دسلفیانو دځالو په لور حرکت وکړ چي له لږ مقاومت وروسته یی هغه هم له مانی سره مخامخ کړل اوزیات شمیر مړي یی په ځای پاتی شول. اوس دکنړ ولایت په بشپړه توگه دطالبانو داسلامی تحریک تر کنترول لاندی دی .او دکنړ عامو مجلسو مسلمانانو ورته هرکلی ووایه اوخپلي خوشحالي یی څرگندی کړی، ډیر ژر به ددغه ولایت دمرکز اوولسوالیو اداری فعالی شي.
دیادوني وړ ده چي دسلفیانو اداری مخکي خپل بیعتونه لیرلي وو اودتحریک یو لوړرتبه هیئت یی دمذاکراتو دپاره غوښتي وو ، چي وروسته یی په دوکه سره په هغه دزي وکړی او دوه تنه مجاهدین یی شهیدان کړل. له هغه نه وروسته جگړه ونښته چي دکنړ په نیولو سره پای ته ورسیده.

**به همه کارکنان ملکی ونظامی اداره ائتلافی از جانب امیرالمؤمنین عفو عمومی اعلان گردید**

خبر نگار ماز قندهار خبر میدهد که جناب امیرالمؤمنین به همه کارکنان ملکی ونظامی که تاحال به شکل از اشکال درقید خدمت اداره ائتلافی کابل قرار داشتند و باعلیه تحریک اسلامی طالبان به جبهات جنگ فرستاده شده اند، برای همه آنها عفو عمومی رااعلان داشته وازآنها میخواهد که به حیث یك مسلمان به وجایب ومکللفیتهای شرعی خودها متوجه شده علایق وارتباطات خود را ازاداره غیر شرعی وملی رباني بریده به صفوف تحریك اسلامی طالبان بپیوندند وهمچون سایر افراد ملت که درسایه تحریك اسلامی زنده گی دارند سر،مال وناموس آنها مصئون ومحفوظ بوده وهیچ نوع تهدید وفشار متوجه آنها نخواهد شد واز همه امتیازات مادی ومعنوی که سایرین برخوردار میباشند اوشان نیز بهرور خواهند شد. وآنانیکه از عفو، عمومی که اعلان گردیده استفاده نبرده از صفوف ادارات ملکی وبه خصوص نظامی اداره فاسد رباني کنار نروند مسئولیت خطیر شرعی وتاریخی آن بعهده خود آنها بوده هیچگاه ازان مسئولیت بری الذمه پنداشته نخواهند شد.

داسلامي تحریك اتل سپه سالار محترم ملا بورجان اخند له بي بي سي سره په مرکه کی:

## دجلال آباد اولغمان مکمل کنترول دطالبانو په لاس کي دي اواداری فعاله دی

### دکنړ په ارتباط مشکل نشته، موږ کوښش کوو چي دانن دکنړ مشکل هم حل کړو

محترم ملا بورجان اخند د خبریال په ځواب کي وویل:
هغه مفسدین چي په هیواد کي دامنیت طرفدار نه دي موږ مجبوره یو چي دتوري له لیاري اصلاح کړو . دکابل داداري دغه ادعا چي لغمان څيني برخي ددوي په لاس کي دي ، په کلکه سره تردید وو او ټولو ژورنالستانو ته دعوت ورکوو چي راسي لغمان ووینې چي په بشپړه توگه دطالبانو داسلامي تحریك په لاس کي دي اوهلته اداره فعاله ده.
ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسي به په سروبي،او یا په تگاب باندي حمله (۴)مخ

**دکابل ، کندهار دلویی لاری دترمیم کار پیل شو**

دملي ښیگڼو دعمومي ریاست دفتي پرسونل له خوا دکابل - کندهار دلویی لاری دترمیم کار پیل شو.
له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دطالبانو داسلامی تحریك دعمرانی اوعرفانی خبریال وایی دهمدغو عمرانی پروگرامونو په لړکی یو زیات شمیر عمرانی پروژی ترکار لاندی نیول شوی او د ودانی دغه پروگرام په چټکی سره مخ په وړاندی روان دی. پروگرامونو په لړ (۴)مخ

## دطالبانو داسلامی تحریك مجاهدینو په وریښمین تنگی کي ددښمن لمړی کرښه ماته کړه

### ائتلافی اداری په درجنونو مړی شاته پرېښودل

### داسلامی تحریك ویارمن مجاهدین دسروبی په لور روان دی

دشریعت خبریال له جلال آباد څخه دشپی په یوولسو بجو خبر راکړ چی دطالبانو د اسلامی تحریك مجاهدینو کابل دائتلافی اداری دغه برید په مقابل کی چی دیکشنبی د ورځي په نهه بجوبی دوریښمین تنگی له خوا دطالبانو په ځواکونو پیل کړی وو. (۴)مخ

داسلامي تحریك محترم مرستیال ملا محمد رباني د باړې له پیر صاحب سره په خبروکی:

### موږ به دخپلو پروگرامونو په تطبیق کی د هیواد دعلماؤ نیکی مشوری له پامه نه غورځوو

له جلال آباد څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دسبلي په دیرشمه نیټه محترم مولوی سیف الرحمن اخندزاده چي دباړی په پیر مشهور دی داسلامی تحریك له مرستیال محترم ملا محمد رباني سره وکتل.
په دی کتنه کی له محترم (۴)مخ

### په سروبی کی دکابل دائتلافی اداری افراد له موقع څخه په استفادی سره خپل سنگرونه خوشی کوی

#### ډیر ژر به له وینو توئیدلو پرته په سروبی کی پراته خنډونه لـه منځه یوړل شی

.په داسی حال کی چی دسروبی ولسوالی دطالبانو داسلامی تحریك دمسلمانو ځواکونو ترمحاصری لاندی ده، خویه دی ولسوالی کی دکابل دائتلافی اداری زیات شمیر قوتونه ځای پرځای شوی دی اوغواړی چي کابل ته دطالبانو داسلامی تحریك دځواکونو دننوتو مخه ونیسي.
دسروبی له ولسوالي څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دکابل دائتلافی اداری له خوا دغی ولسوالی ته په زور راوستلی افراد له موقع څخه په استفادی سره هره ورځ یو زیات شمیر تیښتي اودطالبانو دځواکونو له لیکو سره یوځای کیږي. ځکه دوی په دی پوه دی چی په زور کلی نه کیږی اوهغه ورځ (۴)مخ

دافغانستان داسلامی پاڅون شوری وویل:

### رباني دی داستعفی په ورکولو سره دزیاتو وینو توئید ومخه ونیسی

### په مشرقی ولایاتو کی دطالبانو داسلامی تحریك دوروستیو بریالیتوبونو هرکلی کوو

دافغانستان داسلامی پاڅون شوری د۱۳۷۵هـ ش کال دسنبلي په ۲۹ نیټه دمحترم مولوی فضل الله فیاض په مشری غونډه وکړه او دهیواد حالات یی تربحث او (۴)مخ

### په ننگرهار کی دیوی ناروا توطیی په نتیجه کی دننگرهار ولایت دنومیالیو شهیدانو فاتحه واخیستل شوه

دجلوزو له کمپ څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دیکشنبی په ورځ دسنبلي په ۲۵ نیټه دننگرهار دوروستیو تحولاتو په جریان کي دشهیدانو فاتحه په لوی جامع جومات کی په داسی حال کی واخیستل شوه چی زیات شمیر علما، مهاجرین او انصار (۴)مخ

حاجی ملا محمد عباس «اخند» دملل متحد هیئت ته په خبرو کی :

## طالبان دیوه پاك قشر په توگه میدان ته را ورانږي شوی اودخدای«ج» په مرسته یی بریالیتوبونه تر لاسه کړی دی

دملگرو ملتو دمؤسسی دعمومی سرمنشی دمرستیال ښاغلی مستر مارلد گول په مشری یوه هیئت کندهار ته راغلي و دهیئت په ترکیب کی چي دافغانستان لپاره دملگرو ملتونو خاص استازی ښاغلی نوربرت هول هم گډون درلوده داسلامی تحریك څینو (۴)مخ

### په لغمان کی دعلیشنگ اودولت شاه ولسوالی له توپکیانو څخه پاکی شوی

اوس په لغمان کی په غوڅه توگه امنیت دی اوخلك په داده زړه ژوند کوی

دمشرقی ولایاتو دبشپړ تصفیی په لړ کی دطالبانو داسلامی تحریك مسلمانو او زړورو ځواکونو دتیری جمعی په ورځ دلغمان ولایت دعلیشنگ اودولت شاه ولسوالی په (۴)مخ

### په کندهار کی ۶۰ کیلوگرامه چرس ونیول شول

په هیواد کی داسلامی تحریك ترکنترول لاندی سیمو کی دنیشه یی موادو کښت په غوڅه توگه بند شوی دی. (۴)مخ

آزاد خبریال : سیدحسین نجیبی وویل:

## په ننگرهار کی امن تینگ دی

### دوسلو راټولول په عادی دول جریان لری

**خیوه ، دره نور او نورگل پرون طالبانو فتح کړی**

. ننگرهارته دطالبانو له راتگ څخه وروسته تیره سه شنبه ددغه ولایت لیدلو ته ورغلم له پولی څخه تر اوسنیو وروستیو مي سمدستي سترگی دطالبانو داسلامی تحریك په (۴)مخ



**سرمقاله**

### روسانو وکمونستانو ته د ائتلافی اداری زاری اونتواتی

کله چي دطالبانو اسلامي تحریك دلوی خدای «جل جلاله » په نصرت اودمسلمان اومجاهد ملت په بشپړ ملاتړ اوحمایت دهیواد په ختیزو ولایتونو کی په یی ساری توگه استقبال شو، نوهلته یی دجشنونو اواتڼونو په ځای لوی خدای «ج» ته دشکرانی د اداکولو په لړکی دقرآن کریم تلاوتونه اوختمونه وکړل ، او دخدای «جل جلاله » په دربارکی یی دعجز اوانکسار سرونه ټیټ کړل اوله خپل ځښتن سره یی وعده وکړه چي دوی به دغه شیندلی ملت سره یوکوی . داسلامي جهاد بایللی برم به بیا لاسته راوړی، په ټول هیواد کی به اسلامی شریعت پلی کوی، ملت ته به داسلامی عدالت له مخی ددوی غصب شوی حقونه ورکوی اودخلکو ترمینځ به ددښمنانو په لاس دتخلیق شوی تفریقی او دښمنی په ځای داسلامی اخوت او وحدت ستر نعمت وربه برخه کوی.
دطالبانو اسلامی تحریك په نور ملت ته له هغو پانهونو اوولو څخه نجات ورکوی چي داسلامی جهاد له اصولو څخه په انحراف سره به یی کله دمادی قدرت دترلاسه کولو دپاره په مسکو،لیبیا، تونیس اوعراق کی دکارمل نجیب له کمونستی حکومت سره دقدرت په ویشلو اوجهاد له مینځه وړلو په سر مذاکرات کول ، اوکله به یی دپردیو هیوادونو په قومانده داسلامی جهاد اتحاد ونه له مینځه وړل ، او کله به یی له رباني مسعود سره په دی نوم جگړه کوله چي دنجیب دحکومت قاتله ملیشه ورسره ده ، اوکله
پاتی په (۲) مخ

### دهمدردي پیغام

داسلامي تحریك مرستیال او دختیځو ولایاتو تنظیمه رئیس الحاج ملا محمد رباني په یوه مخابروي پیغام کي د مرحوم انجنیر محمود تاڅاپه شهادت یوه ستره ضایعه بللي او هغه ته یي له بښونکي خداي «ج» څخه د عفوي، کورني اودوستانو ته یي دصبر جمیل اواُجر جزیل غوښتنه کري او ځان یي دده په دراندہ غم کي برابر شریك بللي.

### په چرسو باندی کرل شوی دری جریبه ځمکه وارول شوه

له میدان ښار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چي دطالبانو داسلامي تحریك ځواکونو په جلریز اوکوته عشرو کی په چرسو باندی کرل شوی دری جریبه ځمکه واړوله .
دځمکی داړولو په مراسمو کی دسیمی مسئولین اوزیات شمیر کلیوال حاضر وو دسیمی امنیتی مسئولینو دسیمی خلکو ته په زغرده وویل چی چرس کرل اوپه سیمه کی رواجول داسلام له اصولو سره مخالف عمل دی اوموږ به هیڅوا ته اجازه ورنه کړو چي وروسته له دی خپلی ځمکی په چرسو وکری.

په فلیپین کی دامریکا اومانیلا د... (۲)مخ

*خدمات دیني واجتماعي علماء* (۲)مخ

**دعزت لیار** (۳)مخ

**د ادب ملغلری** (۳)مخ

**دننگرهار په بی گناه خلکو ...** (۳)مخ

**نوای شهید** (۳)مخ

## تحریك اسلامی طالبان تحت قیادت شرعی امیرالمؤمنین در راه تنفیذ شریعت واقامه حکومت واحد مرکزی در کشور از هیچ نوع ایثار وفداکاری دریغ نمي ورزد

# شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترکتنی لاندي
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پېښور کي دطالبانو داسلامي تحریک نمائندګي
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۵۰۰) افغانی
: په پاکستان کی (۳) کلداری

## سرمقاله ...

په یی بیا هغی ملیشی ته دقدرت په هیله پناه ورووړه اودهغی دموجودیت ته پرته په یی هر اسلامی اتحاد په لنګته واهه . کله به یی دمسعود د ربانی اداره یوکمونست ائتلاف باله اوکله به یی دروسانو او هندوانو دوسلو د وسله کوټ، باله اوپه دی خاطر به ورسره جنګیدل چی هیواد ته له روسانو اوهندوانو څخه نجات ورکوی چی داټول له جهاد سره خیانت او له ملت سره لوبی وی.

کله چی دغه ډلی اوپانهونه داسلامی تحریک دایمانی طاقت په مقابل کی له ماتی سره مخامخ شول نوائتلافی اداری ته تسلیم شول اواوس بیا دهمهغی غیر اسلامی اوغیرقانونی اداری د تحمیلولو د پاره دمسلمان ملت دوینو تویولو قومانلدی ورکوی. دمجاهدینو په خلاف کله په ماسکو اوتاشکند کی په کمونستانو پسی دمرستی اواتحاد تنواتی اومرکی ګرزوی. اوکله هم دائتلافی اداری دبقا دپاره د روسانو په دربارکی دهیواد دیونیم میلیون شهیدانو قاتلانو ته عذرونه اوزاری کوی، چی بوګلی بیا دی په افغانستان کی دافغانانو دعامی وژنی بازار ګرم کړی. سفارت دفعال اودافغان وژونکو وسلو لیږ ته دی نوره هم ګړندی کړی. څوروکولای -

شی په افغانستان کی ددغی بدمرغی انارشی ، ګډوډی ، لوټماری اوپاچاګردی عمر نورهم دراز کړی، دملت په خلاف ددردونو اوغمونو ، دقتلونو اومصیبتونو ، بربادیو اوتباهیو یوه بله لړی پیل کړی، اوپه دی توګه په ګران هیواد کی داسلامی شریعت اوعدالت دتطبیق په لیاره کی خنډونه پیداکړی ، اوملت قاتلانو ، لوټمارانو او غاصبانو ته دقتل ، لوټمار اوغصب نور فرصتونه وروبرخه کړی .

مسعود او ربانی چی قدرت ته درسیدو په خاطر د «سکتریزم» ترعنوان لاندی له کمونستانو اوسکترستانو سره داسلامی جهاد سره په خیانت اودافغانستان دملی وحدت دورانولو کومه دسیسه جوړه کړی وه اودطالبانو اسلامی تحریک اوس هغه دلوی خدای (جل جلاله) په فضل اودمسلمان اومجاهد ملت په مرسته اوحمایت دشنهولو روستنی پړاوته رسولی ده ، دکابل ائتلافی اداره لګیاده چی دروسانو او هندوانو دمرستی د ترلاسه کولو اوپه سیمه کی دنویو بدمرغه غیر اسلامی ائتلافونو دتشکیلولو اوجوړولو په واسطه دهغی لړزیدلی لینګی ورتکیه کړی اوپه هیواد کی دوینو تویولو سلسله جاری وساتی.

خو زمونږ مسلمان اومجاهد اولس اوس ددغو ډلو اوپانهونو په بدمرغه ، کرغیړنه اومنحوسه لوبه باندی په بشپړه توګه آګاه اوپوه شوی دی، دغه دنفاق اوشقاق ارتجاعی ،نژادی مرستی ګوند پرستی باطل سیاستونه یی ښه پیژندلی دی هیڅکله به ددوی ددغو دسیسو په خلاف چی د اسلام ، هیواد اوملت دګټو په خلاف یی له کمونستانو ، روسانو اوهندوانو سره جوړوی بی طرفه پاتی نشی نور دافغانستان دمسلمانو اوغیرتمنو خلکو دپاره دبی طرفی اوبی تفاوتی هغه دمایوسی اوناامیدی ځوروونکی دور پای ته رسیدلی دی ، چی دیوه منظم اوآګاه اسلامی قیادت په نشتوالی باندی مبتلاوو اوس دطالبانو اسلامی تحریک دافغانستان دمجاهد ملت دهر بچی ، دنر اوښځی ، دتاجک او اوزبک ، پښتون اوبلوچ ، ترکمن او هزاره ، سنی اوشیعه د زړه اواز دی ، ددوی دمادی اومعنوی ګټوساتونکی دی دهیواد دنجات پرښته دی ، نو ددغه باتور اوغیرتمن ملت ددغه مقدس تحریک شاته ولاړ دی دهراستکبار ،اواستعمار ، دهر کمونست اوملحدا ودهر مفسد او منافق په خلاف یی یوه اتحاد اویوه لاس خولهماتونکی ځواب ورکوی ، په هیواد کی به دیوه واقعی اسلامی دولت دجوړولو دپاره هر راز قربانی اوفداکاری ورکوی ، څو دلوی خدای (جل جلاله) رضا ترلاسه کړی ، په هیواد کی اسلامی شریعت تطبیق کړی، دمظلومو اوبی وزلو دردونه دواکړی. له ظالمانو او غاصبانو سره حساب وکړی ، دهیواد ورانی ویجاړی ودانی کړی، انارشی اوپاچاګردی له منځه یوسی اودیوه پیاوړی ، متحد، اواسلامی افغانستان په جوړولو د نژدی دوه میلیونو شهیدانو رو حونه خوشحاله اوددغه باتور ملت دغیرت تاریخی شمله ورجګه کړی.

دملګرو ملتونو مؤسسی ته یو تنقیدي کتنه

# په فلیپین کی دامریکا اومانیلا د حکومتونو ظلمونه

مولوي عبدالحکیم «مجاهد»

فلیپین چی عربانو به ورته «عذرا مالیزیا» ویل او داسپانیا عیسایانو د فلیپین په نوم یاد کړی دی ، هغه ددی دپاره چی په دی هیواد کی داسپانیا دوو پاچاپانو چی هر یو یی فلیپ تومیده حکومت کړی دی .

دوهم فلیپ (له ۱۵۵٦م -۱۵۸۸م) اودریم فلیپ (له ۱۵۸۸م- ۱٦۲۱م) پودری حکومتونه کړی دی ،نو دوی دواړو ته دتثنیی په حال کی فلیپین وایی چی په دی توګه ددغه هیواد نوم هم فلیپین شو.

په فلیپین کی له پنځه میلیونه څخه زیات مسلمانان ژوند کوی ، لومړی دوی په ټول هیواد کی استوګنه درلوده ، خو دوی دعیسایانو دسخت ظلم او خونړیو جګړو له کبله اوس دهیواد په جنوب [illegible] جزیرو ته ورتیله شوي [illegible] اوس په تدریجی دول له دغو [illegible] څخه هم ایستل کیږی ، اوپه ځای یی نورعیسایان دحکومت له خوا ته ځای په ځای کیږی چی په دی کی زیاتره یی د فلیپین له بهر څخه راوستل شوی دی. په فلیپین کی په مسلمانانو باندی ظلم اوزیاتی بالکل له هغه ظلم او تیری سره ورته دی کوم چی په اسرائیلو کی دیهودانو له خوا په مسلمانانو باندی کیږی ، مسلمانان له کور اوکلی څخه شړل کیږی اوپه ځای باندی یی نور له بهر څخه راغلی عیسایان میشته کیږی.

فلیپین دمسلمانانو له خوا په زور ته دی نیول شوی، دلته اسلام دمسلمانانو سوداګرو له خوایه تهمه میلادی پیړی کی خپور شو.ځوک وایی چی په ۱۲۵۸م کال کی کله چی عباسی خلافت له منځه ولاړ، نو زیات شمیر اسلامی عالمان دسوداګرانو په ملګرتیا دلری ختیځ په لورمهاجر شول چی دلته یی داسلامی دین دعوت پیل کړ. اوځینی بیا په دی نظر دی چی اسلام دلته دتصوف دمشایخو او زاهدانو له خوا دتبلیغ اوتزکیی په واسطه خپور شو، چی ددغه ځای دمعاصری روحیه سره ښه برابر و.

په هر حال د فلیپین مسلمانان کله د اسپانوی او مریکایی عیسایانو تر استعمار لاندی ځوریدلی دی اوکله هم بیا دجاپانی مشرکانو په خونخوارو منګولو کی کړیدلی دی .

حیل اسلامی جهاد څلور سوه کلن ویاړلی اوږد تاریخ لری چی دری سوه کاله له اسپانوی عیسایی استعمار سره جنګیدلی دی: اسپانویان "فلیپین ته په شپاړسمه پیړی کی دتجارتی مسابقی سره داخل شول ، خلک یی تصرانی یا عیسایی دین ته دعوت کول اوغوښتل یی چی دلته هم داندلس تاریخ تکرار کړی، خو ددغه ځای دیایمانه مجاهدینو دجهاد له برکته په دغو بدمرغه اومنحوسو اهدافو کی بریالی نشول.

له اسپانویانو څخه دخلاصیدلو نه وروسته دوی له جاپانی مشرکانو او امریکایی صلیبیانو سره په جهاد باندی بخت شول او ددوهمی نړیوالی جګړی نه وروسته په فلیپین کی دعیسایانو یاصلیبیانو پښی ټینګی شوی اومسلمانان یی د فلیپین له منځنیو برخو څخه دجنوب په لور دیارلسو جزیروته را ایسار کړل. دغه جزیری په لاندی ډول دی:۱- پالاوان ، ۲- تاوی تاوی ، ۳- سولو ، ٤- باسیلان، ۵-زیمبو انګاول سر، ٦- زیمبو انګاول نارتی، ۷- شمالی کاتاباتو، ۸- میګواندانو، ۹- سلطان قدر، ۱۰-جنوبی کاتاباتو ،۱۱- لاناوسر، ۱۲- لاناونارتی او ۱۳- دیو اوسردی دی .

په ۱۸۹۸م کال کی کله چی امریکا له اسپانیا سره په جګړه کی وه، فلیپین داسپانوی استعمار په مقابل کی د «اګوانالدو» ترقوماندی لاندی په ډیر جرأت اوشجاعت سره وجنګیدل. اواسپانیایی ماتی ته نژدی کیږی وه ، دا وخت امریکایانو ددوستی په جامه کی د فلیپین فوځ له نورو حملو څخه منع کړ او ځان یی د فلیپین حامی ښکاره کاوو. دامریکایی قواوو قوماندان «جنرال سمت» په جګړه کی دسولی سپین بیرغونه پورته کړل. او «اګوانالدو» ته یی دخبرواترو وړاندیز وکړ. کله چی د فلیپین دغه قوماندان دخبرو اترو دپاره امریکایی جنرال ته راتږدی شو نو هغه وریاندی حمله وکړه . او «اګوانالدو» یی ووژل ملګری یی محاصره شول چی وروسته یی ځانونه امریکایانوته تسلیم کړل. په دی توګه فلیپین دامریکایانو تر تسلط لاندی راغی.

په فلیپین باندي دتسلط نه وروسته ، امریکایانو داسپانویانو په شان په ټول فلیپین کی په ځانګړی توګه په جنوب کی د «مورو» دمسلمانانو په خلاف دښمنانه پالیسی خپله کړه. چی ددغی غلطی پالیسی په ځواب کی د فلیپین مسلمانانو دامریکایانو په خلاف هم هغی جهاد ته ادامه ورکړه. لکه څنګه چی یی داسپانویانو په مقابل کی ترسره کړی وو . دمورو مجاهدینو (له ۱۹۰۲م-۱۹۱٦م) کال پوری دامریکا په خلاف په جهاد کی له شل زره څخه زیات شهیدان ورکړل. دکفر په مقابل کی دمورو دمسلمانانو داسلامی جهاد لوړه جذبه او احساس له لاندی شعار څخه معلومیدلی شي« رښتنی مورو هغه دی چی مرګ ته هرکلی وایی»

دیورتنی شعاریوه بیلګه ده یدوهاؤ» جګړه ده: چیرته چی دمورو مسلمانانو امریکایانو ته دمالیی دنه ورکولو فیصله وکړه او ځانونه یی په داسی حال کی جګړی ته تیار کړل چی له دوی سره له نیزو اوغاښو توپکونه پرته نور څه نه وو او دښمن په محاصره وسله باندی سمبال وو.

دامریکایانو په خلاف شپږ دسپیو جاتی واغوستلی اوله خپلو سپیو سره دمعرکی میدان ته داخلی شوی. جګړه تو له ورځ روانه وه چی په نتیجه کی ددغه کلی د زرتنه نفوسو څخه یواځی شپږتنه ژوندی پاتی شول او له امریکی فوځ څخه یی یوویشت تنه ووژل اوپنځه اویا زخمیان کړل چی په هغوکی دګرمی دنګ» هم سخت زخمی شو.

تر ۱۹۱٦م کال پوری دامریک [illegible] خلاف جهاد [illegible] په زیاتیدو شول. [illegible] مسلمانانو [illegible] شول [illegible] له امریکایی [illegible] دی دپاره [illegible] کړل چی فتنه [illegible] درسوبه وکړل اوله اسلامی عقیدی څخه یی لیری ، اوله ماتی ورکولو څخه یی وانکار وکړ، ځکه چی په هغه باندي کفري استعماري حکومت پیاوړی کیده ، ددغه اختلاف په اساس په کال ۱۹۲۳م کی دامریکایانو په خلاف یوه بله عمومي سرهرونه پیل شوه او امریکایان یی سخت وارخطا کړل. دجریکی عملیاتو په ترڅ کی دمورو دمسلمانانو مشرله چلوریشتو ملګرو سره ګډ په شهادت ورسیده.

پرولسمه برخه

ددی دپاره چی مسلمانان کمزوری کړی، امریکایانو دمسلمانانو په سیمو کی له بهر څخه عیسایان راټول کړل اودمورو په ځمکه کی یی ددوی دمیشته کولو پروګرامونه جوړ کړل چی په مقابل کی یی د «انکلکات» په نوم یو خوځښت پیل شو چی د «تربیی» دسیمي خلکو په پراخه توګه په دغه مبارزه کی برخه واخیسته اوامریکایان یی له سختو مشکلاتو سره مخامخ کړل. دغه تحریک له ۱۹۲٦م نه تر ۱۹۲۷م کال پوری په ډیر زور سره روان و.

په ۱۹۳٦م کال کی دعبدالحامد بونګابونګ په مشری کی دامریکایانو په خلاف یویل وسله وال مقاومت پیل شو چی زیاتره ده لناؤدجهیل ، په خوا اوشاکی په زوروتو باندی وو . له خپل ځان څخه ددفاع دپاره دمورو مسلمانانو دفاعی کلاګانی جوړی کړی چی دی ته دکلاګانو مقاومت هم وایی. ددغه خوځښت غوښتنی په لاندی دول وی.

۱- دمورو له مسلمانانو سره دی امتیازی سلوک نه کیږی.

۲- فلیپین ته دآزادی په وخت کی دی ، مور له فلیپین څخه جانګړی هیواد کړی.

۳- دمورو دځمکو محصولات باید دمورو دخلکو دپاره اختصاص شی.

٤- داسلامی دین له سپکی اواستخفاف څخه دی ده وشی.

امریکایان چی له یوی خوا په فلیپین کی دمسلمانانو له سخت مقاومت سره مخامخ شول اوله بلی خو دمسلمانانو په ځمکو باندی دعسایی ناقلانو په میشته کولو ادخلو له داګیبانو په مونډلوکی بریالی شول نو په ۱۹٤٦م کال کی یی په ظاهره فلیپین ته [illegible] ورکړه اودمنداناو اوسولو د سیمی چی په سیاسی لحاظ عملاً له ۱۹۳۵م کال څخه له امریکایی تسلط څخه ازادی وی او خپله اسلامی اداره یی تشکیله کړی وه [illegible] آزادی په وخت کی یی هغه له فلیپین څخه جلا نه کړی، ده مورو ارض وطن سیمه یی له شمالی منځنیو سیمو سره ګډه کړه او د فلیپین برخه یی وګرزوله.

له دی سره سم دمورو دمسلمانانو مبارزه د امریکایانو په ځای ددوی دلاس پوڅو عیسایانو «مانیلا» له حکومت سره پیل شوه چی پنځوس کاله کیږی دوام لری اولاندی تلفات یی په نتیجه کی مینځ ته راغلی دی:

۱- له ۱۹٦۸م کال نه تر ۱۹۸۲م کال پوری نژدی دوه لکه مسلمانان شهیدان شوی دی.

۲- دری لکه خلک له هیواد څخه دباندی هجرت ته مجبور شوی دی .

۳- شل لکه خلک په هیواد کی دننه دمهاجرینو په توګه ژوند کوی.

٤- دری لکه کورونه سوځول شوی اوپاوران شوی دی.

۵- دپنځوسو کلیو نوم او نښان ورک شوی دی.

٦- زیات شمیر مسجدونه او مدارس شهیدان شوی دی چی ټاکلی شمیره یی معلومه نه دی.

۷- په زیات شمیر بانډونه او دکرځکی چی له مسلمانانو څخه په زور غصب شوی اونیولی شوی دی، د هغو هم شمیره معلومه نه ده.

## په دولتی سطحه دمسلمانانو دځمکو دغصب کولو وحشت

په فلیپین کی دامریکایانو له دوری څخه نیولی تراوسه پوری دمسلمانانو ځمکی غصب کیږی، او داسرائیلو په شانی دلته هم دولت په بی شرمی سره له بهر څخه عیسایان راولی اودمسلمانانو په ځمکو کی میشته کوی.

په ۱۹۱۹م کال کی «دعامو ځمکو دقانون» په نوم یو قانون امریکایانو راښیخ ته کړ چی په هغه کی یی یوه فلیپینی ته ، وسل اوځلورویشت ایکړه ځمکی دملکیت [illegible] حق ورکړی شوی و خو یوه مورو مسلمان یواځی دلس ایکړه ځمکی دملکیت حق لرل. [illegible] (٤۸٤) مربع ګزه ده په دی [illegible] دمسلمانانو اوسلو په سیمو کی یه یی تو [illegible] کونکو عیسایانو ته دهغوی دراتګ [illegible] اسناد په لاس باندی ورکول، په داسی حال کی چی د خاوری له اصلی اوسیدونکو څخه یی دپلارنی ځمکه اسناد ضایع کول اونوی اسناد به یی نه ورکول.

ددغو قوانینو له مخی امریکایانو تر ۱۹۳۰م کال پوری ده «داداو، سناو، زمبوانګا اواګوسان» په سیمو کی ددولت په مصرف باندی د نویو راتلونکو عیسایانو اولس (۱۷) مستعمری یا کالونیوی ورانی کړی.

په ۱۹۳۵م کال کی دغه ظلم اوبی شرمی نور هم اوج ته ورسیده . او دولت دفیروری په ۱۲ ۱۹۳۵م کی قانون نمبر ٤۱۹۷ تصویب کړ چی په واګه یی ده نویو آبادونکو» دقانون نوم ورته کیښود. په «سنداناو اوسولو» کی یی دعیسایانو عام میشته کیدل پیل کړل اوحتی په ټول هیواد کی دا دشعار په توګه ویل کیدل چی «ځوانانو دجنوب لورته راځئ» په دی وخت کی استعماری دولت دضرورت په وخت له خلکو څخه په زوریانه ځمکی اخستلی او له بهرنه راغلیو عیسایانو ته به یی ورکولی. اوبالاخره یی ده مشترک المنافع د ۱٤۱ قانون» له مخی دمورو دخلکو پلارنی ځمکی دولتی کړی او دوی یی په زور سره له خپلو ځمکو څخه محروم کړل.

دقانون په «۸٤» ماده کی دیوه ترمیم له مخی یی ټول هغه اسناد چی داسپانوی حکومت په دوری [illegible] کلن دور کی دمسلمانانو په لاس کی وو اوپایی تر لاسه کړی و ، هغه یی غیر قانونی اعلان کړل. اوس یو مورو مسلمان له څلور ایکړه ځمکی نه دزیاتی ځمکی د ترلاسه کولو حق نه لري، په داسی حال کی چی استعماری شرکتونو ته حق ورکړ شوی و چی تر (۱۰۲٤) ایکړه ځمکی پوری ترلاسه کولای شی.

په ۱۹٦۳م کال کی یی دځینو قوانینو په تعدیل دشرکتونو په دغو ځمکو کی دلومړی ځل دپاره ۲۵زره کورنی آبادی کړی اوپه ۱۹۷۵م کی یی ۵۰۲٤۷ کورونه ددولت په مرسته او اداره میشته کړل. له ۱۹٦۹م نه تر ۱۹۷۹م کال پوری دری میلیونه اوپنځه لکه ناقلان په جنوب کی ددولت له خوا ځای په ځای شول. چی دمخصو جګړو اوږدو باعث وګرزیدل.

# خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعهء روحانیت کشور محافظین وسپاهیان سرحدات جغرافیایی ونظریاتي کشور اند

قلعه جوادی

قسمت نزدهم

## صلح نامه ئی بندی (۸) اګست (۱۹۱۹) از اراده ملي الهام نګرفته بود

جامعه روحانیت کشور به پیروي کامل از هدایت دیني واحترام به ارزشهاي ملي در راه حفاظت ونګهباني سرحدات نظریاتي وجغرافیایي کشور آګاهانه ومخلصانه درهر مقطع ازتاریخ عملاً دست در کارشده وبقدر وسع وتوان رفع مسئولیت نموده است . چنانچه در سطور ګذشته یاد آور شدیم که هر ګاه تمامیت ارضی کشور روي تحمیل استعمار انګریزي تحت تهدید وسوال قرار ګرفت وخط «دیورند» برزمامداران فرومایه کشور قبولانده شد، جامعه روحانیت وعلماء، کشور اینطرف خط «دیورند» وانطرف خط «دیورند» (سرحدات آزاد افغاني که فعلاً داخل حدود کشوري پاکستان میباشد) به آن اعتراض کردند ودست به سلاح زدند وسالهاي سال علیه استعمار انګریزي به جهاد وجنګ پرداختند وعملاً ملت افغان در جنګ سوم افغان- انګلیس به تمامیت ارضي دست یافتند وسرحدات تحمیلي راشکستاندند. که متأسفانه زمدار کشور بر این همه پیروزیهاي ملت مجاهد وقهرمان کشور خط بطلان کشیده آرزوها واراده ملت مجاهد را نادیده ګرفت وبه اساس معاهده پندي خط تحمیلي دیورند را با انګریزها قبول دار ګردید حتي غرض خشنود نګهداشتن انګریزها از ملاقات ودیدار با وفد وهیئات که از همه مجاهدین ومردم شجاع افغانهاي سرحدات آزاد کشور نماینده ګي میکرد. بااینکه روحانیون بزرګ کشور کتبي به زمامدار کشور اهمیت وارزش مردم مجاهد سرحدات آزاد را ګوش زد نمودند واز امان الله خان جدي خواستند که با نماینده مجاهدین سرحدات آزاد اقلاً ملاقات نموده به نوازش اوشان بپردازد که متاسفانه شاه از ملاقات با اوشان خود داري نمود.

علل وانګیزه هاي محسوس وموجه که امان الله خانرا وادار به متارکه جنګ وقرار داد پندي باانګریز ها ګردانیده باشد در دست نیست که چرا امان الله خان با وجود مخالفت شدید قومندانان وزعامتهاي ملي ودولتي جنګ سوم افغان ، انګلیس وبا وجود پیروزیهاي چشمګیر مجاهدین درهمه جبهات جنګ علیه انګلیس وبا وجود اینکه مجاهدین چانس پیشرویهاي بیشتري را به داخل قلب دشمن در اختیار داشتند تن به متارکه ومعاهده پی پندي داد وصرف به قبول استقلال که شامل وداخل سرحدات فعلي کشور میشود راضي ګردید واز حق حقه مردم مجاهد وقهرمان سرحدات آزاد که فعلاً داخل حدود جغرافیائي کشور پاکستان میباشد چشم پوشي کرد وآنها را به رحم وکرم انګلیسها ګذاشت. به سوالهاي متذکره جواب مقنع داده نشده است . توجیهات غیر موجه وغیر قابل قبول ممکن در این زمینه ارائه شده باشد. غبار علت تن دادن به متارکه را تزلزل معنوي دربار نشان داده مینویسد: «... ولی این [illegible]

انګلیس را پذیرفت وبقوماندانان خود در تمام محاذات جنګ امر تخلیه مناطق مفتوحه وعقب ګشتی از سرحدات صادر کرد . لهذا سپاه فاتح افغانی خواهی نخواهی [illegible] کردند ونقاط مهمی که باخون مردم و [illegible] افغانی فتح شده بود دوباره (بشمول قلعه جنګی تل) بدست دشمن افتاد ، زیرا پشت جبهات افغانی یعنی دولت مرکزی [illegible] معنا متزلزل بود .»

ګمان میرود امان الله خان به تابعیت از حلقه متنفذ دربار که در محور نادر شاه قرار ګرفته بودند (خاندان لوي نائب یارګري) وهم نګران آنها که ازقبل حامی سیاست نزدیکی وسازش باانګلیس بودند وازهمان سیاست عنعنوي اسلاف خویش (سازش ودوستی)باانګریز پیروي میکردند، در سده نرمي وسازش بالانګریز ګردید وبه خواست واراده ملی وسران لشکري، ملي وروحاني ملت اعتناء نکرد.

یکي ازعلل و وجوهاتیکه زمامد [illegible] از امان الله خانرا به نزدیک [illegible] وتشویق میشود [illegible] قدرت همسایه شمال بود که زمامداران کشـ [illegible] دوستی ومردیکړ [illegible] انګلیس [illegible] همسایه شمال ترجیح میدادند و [illegible] دیګر اختلافات داخلي شهزاده ها وخواص [illegible] درمیان خود . آنها را وادار میشود که به رحم وکرم انګریز چشم دوخته وحمایت انرا براي خود جلب نمایند وبه ان متکي ګردند واعتناء چندان به خواست واراده ملي ننمایند. اما در عهد اماني فشار هاي متذکره به حد نهایي آن کاسته شده بود ، روسها در این وقت شدیداً مصروف مسایل وجریانات داخلي خود بودند وبه تهدید شدید انګلیسها در آسیاي میانه مواجه بودند وحتي ګفته میشود که غرض کاسته شدن فشار هاي انګریز ، روسها امان الله خان را تشویق به جنګ علیه انګلیس نمودند واز جنګ سوم افغان ، انګلیس استفاده برده مسلمانهاي آسیاي میانه را شدیداً کوفتند ومناطق زیاد اوشانرا تحت سلطه خود درآوردند. ودر داخل هم فشار هاي به چشم نمیخورد که امان الله خان را وادار به سیاست نرمي وسازش با انګلیس کرده باشد ، زیرا فردویاګروهي افغاني متنفذ ومهم درباري وغیر درباري دیده نمیشد که در ګرو وحیطه سلطه انګلیس بوده باشد که براي امان الله خان تهدید بالفعل پنداشته شود.

درنظر بنده (راقم حروف) مسایل وعلتهاي درمیان بود که مسکن امان الله خان را وادار نموده باشد که سیاست نرمي ودوستي رابانګلیس پیش ګرفته وبه استقلال [illegible]

۱- محور چرخش مذاکرات [illegible] داخل دربار درګذشته نایب السلطنه [illegible] خان ) بود ورجال مهم وبزرګ [illegible]

شد انګریزي سرحدات آزاد همه به ارتباط نصرالله خان کار میکردند، درحالیکه نصرالله خان بدست امان الله خان زنداني و بالاخره ۱۹۲۰م بشکل مرموز به عقیده قوي ګشته شد. ممکن امان الله خان روي این ملحوظ قوت ونیروي مجاهدین سرحدات آزاد را چندان به نفع خود نمیدانست وبیم داشت که مبادا حلقه حامي نصرالله خان درمیان آنها تشکل پیدا بکند.

۲- زعامت ورهبري مجاهدین وآزادي خواهان جنوب کشور وسرحدات آزاد را علماء وروحانیون در اختیار خود داشتند وروحانیون از نفوذ قاطع وهمه جانبه درمیان مجاهدین برخوردار بودند، وبه خصوص وجود وقیادت فعال وآګاهانه پی جانبان نورالمشایخ وشمس المشایخ «رح» که از مخالفین شدید انګریز وحامیون سرسخت اتحاد عالم اسلام وجوګیات خلافت اسلامي بودند، به هیچ صورت نظر اوشان براي قدرتهاي استعماري روسیه وانګلیس قابل قبول نبود. روسیه وانګلیس وهمه قدرتهاي کفري وسیکولریستي بانظر وداعیه خلافت مخالف بودند وبعدازسقوط خلافت اسلامي ترکي به هیچ صورت اماده نبودند که خلافت اسلامي باز شکل ورنګ بګیرد. ادامه جهاد در سرحدات آزاد وپیش روي مجاهدین درقلب دشمن در هند برتانیوي به نفوذ روحانیون طرفدار خلافت افزوده وآنها را قادر میشود که به مسلمانهاي هند برتانیوي که شدیداً طرفدار خلافت اسلامي بودند به نفع نظام واحد اسلامي روح تازه بخشیده وآنهارا فعالانه علیه انګلیسها بسیج نمایند که این امرو انکشاف را قوتهاي سیکولریستي ناسیونالیستي که امان الله خان را در اختیار داشتند واز طرف محمود طرزي رهبري میشدند برخود هموار کرده نمیتوانستند زیرا جنبش سیکولریستي ناسیونالیستي را که محمود طرزي در پیش ګرفته بود از جنبش سیکولریستي ناسیونالیستي حزب «اتحاد وترقي یوه ترکان جوان» الهام میګرفت که درسقوط خلافت اسلامي ترکي نقش کلیدي را بازي کرده بودند. به یقین ګفته میتوانیم که فشارهاي روسیه وانګلیس از طریق حلقه هاي داخلي افغاني وابسته به آنها برامان الله خان ، موصوف را وادار ګرده باشند که تن به متارکه ومعاهده پی متذکره با انګلیس بدهد که ناقص استقلال وحاکمیت ارضي کشور ومخالف اراده دیني وملي ملت مسلمان افغان پنداشته میشود.

مسئله سرحدات آزاد ګرچه در برنامه هر حکومت ودولت افغانستان مطرح بود وبه اصطلاح هریک از آنها ازطریق رادیو، برنامه هاي اخباري و... از مردم پشتون وبلوچ حمایه وپشتیباني نموده اند ویکي از موانع که در راه بهبود روابط حکومات افغان وپاکستان در ګذشته ها موجود بوده همانامسئله سرحدات آزاد میباشد. قابل تذکر است که هیچګاه این سیاست ها وروشهاي حکومات افغاني با واقعیت وحقیقت همراه نبوده واز اخلاص وصداقت دران کار ګرفته نشده است وناشي از خواست واراده ملي نبود، بلکه تحمیلي بوده از طرف اجنبیها به خصوص روسیه وهند تاار نزدیکي روابط واتحاد دو کشور اسلامي به نفع خود جلوګیري کرده باشند.

وګروه ها واحزاب سیاسي که بابرنامه ناسیونالیستي به اصطلاح در راه احقاق حقوق مردم محکوم پشتون وبلوچ مصروف فعالیت ومبارزه در طول این چند دهه میباشندهیچ ربطي با مردم مسلمان سرحدات آزاد نداشته وهیچ کاري را به نفع آن مردم تاحال انجام نداده اند بلکه از نام ونشان مردم مسلمان پشتون وبلوچ به نفع مقاصد واهداف شوم غیر اسلامي وملي خودها به اشاره وهدایت روس ها وهندوها درمنطقه استفاده برده اند ملت مسلمان افغان وپشتونها وبلوچها مسلمان سرحدات شاهد میباشند هرګاهیکه ملت کبیر ومجاهد افغان مورد تجاوز روسها قرار ګرفتند، خونهاي افغانها همچون جوي بارها سیلان پیداکرد وهمه معتقدات و ارزشهاي دیني وملي افغانهاي مسلمان تحت تجاوز وتهدید قرارګرفت وجهان بشري از داعیه بی برحق افغانها حمایه نمودند وتجاوز روسها ورژیمهاي دست نشانده آنها را در افغانستان محکوم نمودند، اما تشکلهاي منطقه که سنګ حمایه واحقاق حقوق پشتونهارا به سینه میکوفتند وشعار حفاظت عنعنات وافتخارات پشتونها را بالا داشته بودند علیه داعیه برحق ملت مسلمان افغان درکنار روسها قرار ګرفتند وشعار بیرك، فلانی بهائي بهائي رابلند داشتند وازقشون روسي دعوت کردند که به اینطرف سرحدات بیایند. این ګروهاهیچګاه ازیك روش واضح ویك جانبه پیروي نکرده بلکه روی منافع بهاي روسي وهندي خود را عیار ساخته اند.

د شریعت تبصره

# وسله دملت دارادی په وړاندی مؤثریت له لاسه ورکوی

دتاریخی شواهدو له مخی کله چی دکوم هیواد دواکمن په وړاندی دهغه هیواد دملت سلاتی له منځه تللی اوپه ملت کی دهغه په باب کرکه اوانزجار پیداشوی دی، نو که په ظاهر کی له هغه سره په زیاته پیمانه نظامی قوت هم موجود و ، خو دملت د ارادی په مقابل کی یی دمقاومت تاب له لاسه ورکړی اوله نابودی سره مخامخ شوی دی.

ډیر لری به نه ځو په تیره یوه نیمه لسیزه کی په پر افغانستان باندی دروسانو پوځی یرغل اوهغه په مدرنو وسلو سمبالی یی شمیره لښکری او په اړه کړو چی زمونږ پربی وسلی اوبی وسلي هیواد راوختی اوغوښتل یی زمونږ دهیواد تر ابل کولو وروسته دهند تودو اوبو اوبیا له هغه ځایه دخلیج تیلو ته ځانونه ورسوی. خو چی ټول مسلمان ملت یی په مقابل کی ودرید، نو انجام یی داسی شو لکه چی وصولیدو او همدارنګه دروسانو ګوډاګی رژیم هم په داسی سرنوشت اخته شو چی دوی یی تمه نه درلوده.

همدااوس چی دکابل ائتلافی اداره له کوم ترکیب څخه جوړه شوی اوغواړی دیرچی په زور زمونږ پرمسلمان اومجاهد ملت واکمنی وکړی. خو دوی په دی نه پوهیږی چی دپرونیو انجام څنګه شوچی دوی بیا دهغوی پرپله روان دی. دوی باید له هغوی څخه دعبرت درس اخیستی وای اوپه دی پوهیدلی وای [illegible]

نړیوال په تیره بیا زمونږ هیواد وال په څو تیرو نژدی شپو ورځو کی دهیواد په زیاتو سیمو کی دطالبانو داسلامی تحریک دځواکونو دحیرانوونکو پرمختګونو شاهد دی نوله دغه حیرانوونکو پیښو څخه په الهام اخیستلو سره دا نتیجه ترلاسه کیږی چی له طالبانو سره دخدای «ج» دمرستی ترڅنګ دخپل مسلمان ملت سلاتی اوهمکاری هم موثریت لری. ددغه اسلامی تحریک زړور ځواکونه چی په ډیره حیرانوونکی بڼه مخ په وړاندی روان دی یوازینی سبب یی دادی چی دکابل له ائتلافی اداری سره دملت سلاتی له منځه تللی او دزړه له اخلاصه یی دطالبانو له اسلامی تحریک سره دهمکاری مټ ورکړی اوهری سیمی ته چی ددغه اسلامی تحریک ځواکونه رسیدلی دی خلکو وریاندی ګلونه اوپیسی شیندلی دی، په سینه یی هرکلی ورته ویلی دی او اوپه غاړوکی یی ورته امیلونه اچولی دی.

نو چی حالات په دی توګه روان وی اوهری سیمی ته چی طالبان رسیږی دهغی سیمی خلك اوپه خاصه توګه دکابل دائتلافی اداری متعهد ځواکونه ورته ګلی وایی هغه ورځ ډیره رانژدی بریښی چی دکابل دغه بی واکه اوبی ارادی ائتلافی اداره به لکه دپرونیو په شان راوپرزی اوپرځای به یی دمسلمان اومجاهد ملت په خوښه ملی اسلامی نظام ټینګ شی.

دکابل ائتلافی اداری ته زمونږ مشوره داده چی [illegible]

اووپول زښتنه زیاته بی انصافی ده اوتردی وروسته چی دیو افغان ویته هم توتیری دابه دکابل دائتلافی اداری دتور تاریخ په پاڼو کی نور تور واغوستو ورزیاتوی [illegible]

# نـواي شـهيـد

امان الله

به تو اي قوماندان جهادي!
اي فرمانده لواي حق !
توبودي که مرانعره الله اکبر آموختي
وفکر آزادي برايم مژده دادي که:
شهادت رابراسارت ترجيح دهم ونگذارم،
اسلام عزيز ، اولادم ، مردمم ووطنم تحت
اسارت اجنبي قرار بگيرد . ومن اين آرمان
مقدس را به پيشگاه رب الجليل که رنگ
قرمزين لباسم ، لته پرچه پرچه بدنم که شاهد
مدعاست هديه مي برم.
وتوکه وارث خون من هستي به بازماندگانم
چه معامله کردي در حاليکه بادست خالي
ودراز بد روازه هاي مردم به گداي مشغول
اند؟
توبهدف مقدست که برافراشتن لواي حق بود
چه گونه عمل کردي؟
وتطبيق قانون الهي را درزمين چه گونه پياده
نمودي؟

آيا چوکي هاي قتردار ، قصرهاي چندين طبقه
ودختر هاي سيمين تن ترا مصروف به خود
کرده ياچطور آيا درستگر حق «ج» من وتو
چه وعده ها در برابر خالق «ج» ميداديم؛ که
درصورت پيروزي مسلمانان چه گونه به ملت
واسلام خود خدمتگذار خواهيم بود پس وعده
ها همه از روي زبان بوده زيرا که تصديق
قلبي را خداوند«ج» زبون وپريشان نميکند
بلکه نصرت وعزت ميدهد پس تو حالت بي
پرواي را درپيش گرفتي واز ارزش هاي قانون
الهي بدور ماندي ودرپيشگاه امتحان رب
العزت ناکام. درمقابل ملت خجل ودر برابر
خاك ووطن سراسيمه وسرگردان زندگي داري.
بيا باز سرازنو زبان توبه را تکرار کن
وباتصديق مطمين قلبي خود را اماده کن
تارحم خداوند«ج» برحال تو ووطن ويران شده
ومردم سرگردان وپريشانم نايل شود.

## ننگرهارته په خير راغلئ

بي پرواه خوږيانۍ»

غازيانو طالبانو ننگرهار ته پخير راغلئ
علاج ته دزخميانو دي بيمارته پخير راغلئ
مودونه را پدي خوا قامونه دننگرار پول
ظالم دظلم اوزوره وطن ته وو بيزار پول
دظلم انتقام او گذارته پخير راغلئ
غازيانو طالبانو ننگرهارته پخير راغلئ
دحق مقام بلند دي په خپل قرار دريږي
ظالم به پائمال شي جزا ته به رسيږي
دشرع چلولو تکرار ته پخير راغلئ
غازيانو طالبانو ننگرهارته پخير راغلئ
خادم ددين اسلام اوساتونکي دحيا شئ
ظلمت دتورو شپو ته رڼا دسپين سباشئ
زمونږ زبون حالت او دبارته په خيرا راغلئ
غازيانو طالبانو ننگرهارته پخير راغلئ
قامونه واړه ستاسي اوداناسي دقاموئ
مونږ شرع سره سم ځو هم تاسو دمونږ
په يوغږ اتفاق هر يو کارته پخير راغلئ
غازيانو طالبانو ننگرهارته پخير راغلئ
بي شانه خوشحالي شوه وزيږيږه درو کي
خربوني اوشيرزاد . ته ځانبيري په جامو کي
دي ښکلي ننگرهار اوگلزار ته په خير راغلئ
غازيانو طالبانو ننگرهارته پخير راغلئ

## لويه خدايه!!!

فرهاد «نسل»

لويه خدايه استقيم مويه خپل لار کړې
خوشحالي زمونږ په زړونو برقـــرار کړې
د تنا لايق دي نشــــته دي احــد يئ
درست په شرعي ته زمونږ واړه کـردار کړې
عطـــيه دازادي راکــــري خاونـــــد
په قرآن باندي زمونږ سيمــه گلزار کـړي
وطن خلاص موکړې له غم اوله بــلا نــه
په اسلام باندي ســـورمو هرکهـــارکـــړي
اتحاد او اخوت مونږ کښي پيدا کـــــړي
برابر مو په ســــتنو دمختـــــار کـــړي
چي تاريخ د صحابه و را تـــــازه کـــړو
ته پيدا به مونږکښي هغه رنگ ايثار کړي
سوال قبول د کونهو بورو کړه اي خدايه!!
هم قبول زمونږ جهاد په خپل دربار کړي
د«نسل» ارمان پوره کړي ذوالجلالــه !!
افغانان ته برقرار په خپل ديار کــــړي

# دادب ملغلرې

## دملت ژغ

محمد هـ ...ن «فيضاني»

د عشره وهي امن امنيت غواړي
په ... شوي شريعت غواړي
... په خپل حق په شجاعت غواړي
په ټول هيواد کي نافذ شوي شريعت غواړي
په دغه ملك كي د پردينداره عالمان اوسيږي
دميرويس خان اواحمدشاه «بابا» لمسيان اوسيږي
هم ددي خاوري حق پرسته طالبان اوسيږي
ختم په ملك كي دلوټمارو سلطنت غواړي
په ټول هيواد کي نافذ شوي شريعت غواړي
زمونږ وطن کي داکثرو خارجيانو لاس دي
يو دهندوانو بل روسي کمونستانو لاس دي
په حقيقت کي دايران دواکدارانو لاس دي
زمونږ ولس رانه خپلواکه حکومت غواړي
په ټول هيواد کي نافذ شوي شريعت غواړي
پخپل وطن کي د ير غښتلي افغانان اوسيږي
هم دملت عزت ژغورونکي باتوران اوسيږي
نو «فيضاني» ځکه خوشحاله ټول ملت غواړي
په ټول هيواد کي نافذ شوي شريعت غواړي

## طالبانو ستري مشي

عبدالطيف «نثار»

هندوکشه سرده روته دي غازيان راغلي دي
دسپين غره سلسلوته طالبان راغلي دي
دهلمند دڅپو اوښکي په خندا شولي بدلي
مه ژړيږه کابل سيمه عالمان راغلي دي
ددي ورانو جوماتونو خطيبانو ستري مشي
ټول ملت موهرکلي کري طالبانو ستري مشي
خوشالي وه کيه کري هره خوا دلته ژړا وه
دستم اوروته بل وو جوړ ماتم او واويلا وه
دلته مرگ ودلته توپ و تور دودونه دټانکونو
دلته ويرو مرگ اوژويله جوړه شوي کربلاء وه
ستري مشي داسلام ددين حاميانو ستري مشي
ټول ملت موهرکلي کري طالبانو ستري مشي
دلته جوروو هرقدم کښي دخپل سروپانکونه
دلته چورو چپاول ؤ کړول ؤ هم قتلونه
دلته هرچاته په کورکي وو ولاړ درانه ټانکونه
دلته ظلم اووحشت و راتازل مصيبتونه
دنبي دشريعت پيروانو ستري مشي
ټول ملت موهرکلي کري طالبانو ستري مسي
سره بمونه اوريدل پاس اسمان راته ژړل
لاندي ځکه په ژړاوه کهکشان راته ژړل
هريو کوريه وير اخته و هرافغان راته ژړل
داسي ويرته حيراني وه ټول جهان راته ژړل
کړيوره مولوپارمان دشهيدانو ستري مشي
ټول ملت موهرکلي کري طالبانو ستري مشي

## روسي لښكري

«م» عبدالحنان «همت»

جانانه ولي خنداگاني غواړي
ظالم فلك اوس اسير کړي يمه
زړه کښي مي مړي دي ولولي دميني
دوخت ظلمونو کړ ولي يمه
زمانه زړه نه خوښي کيه کړي
ځاي ئي غمونو او دردو نيولي
زما دنازك خيال هغه ښكلي مرغه
له الوتو څخه صياد بند کړي
هو! دا منمه چي اشنا مي ئي نه
دزړه په کور کښي مي هم ځاي درکړي
اوس هم منکر له اشنائي څه نه يم
دزړه پيوند مي هم پتانړلي
خو.
گرانه اشنا! زه دوطن په غيږ کښي
په وينو لژند پر هرونه وينم
هره شپه هره لحظه زوريږم
په هره لويشت کښي چي قبرونه وينم
مادهيواد زخمي ځيگر ليدلي
مايکښي ولبدل ډير وران کورونه
زه له پامبره سره وژغيدم
راته څرگند ئي کړل دزړه زخمونه
ويلي پرساباندي دردونه تيرشول
زه ددي ټولو حادثوشاهد يم
دلته دهر استعمار فاش وللي
زه ددښمن دپرزيدوو شاهديم
خو اوس مايوسه يم له خپلو څخه
هغه چي مايه خپله غيږ کښي لوي کړل
زما دويار شمله ئي ټيټه کړله
زما تاريخ ئي له لسني توي کړل
هــلك هندوکش هم زوريدلي ډير ؤ
پراخه لمن ئي له رازو ډکه وه
راته ئي وويل دزړه رازونه
هره کيسه ئي له دردو ډکه وه
بيا ورشيوه شوم دآمو پر لوري
هغه ويلي دغمو سندري
گو ؤ په ترمه ژيدونکي لهجه
ويلي چي بيا راځي روسي لښکري
زه (همت) وگرزيدم خپل وطن کښي
«ميني کور مي سوځيدلي ډير ؤ
ددي سفر په دي وير جن حالت کښي
ماشوم زړگي مي ژريدلي ډيرؤ

## دشريعت لمرته

ملا اسدالله حنيفي

دطالب العلم خسروي انتخاب

را اوچت شه شريعت روښانه لمره
په تلوار په راختو شه زر تر زره
هله ژر بيړه راوکړه راڅرگند شه
دتيارو گريوان پاره کړه لر اوبره
توري شپي کړه په رڼا باندي بدلي
له امر تر هندوکشه ترسپين غره
هغه مړاوي مړاوي زړونه بيا ژوندي کړه
چي تاري دتکبير پورته کړي په تره
دافغان له کوره ويري پلوشي کړه
دشمشاد له څوکي پورته شه په بره
چي طاغوت درته له سيلمي سرنگون شي
داسي جگ شه کهکشان ته په هنره
ټول جهان دوحدانيت په رنگ رنگين کړه
چي باطل پرمخي پريوزي کور وکره
دوحشت جړي په ځمکه کښي خنثي کړه
چي له شره بي مامون شي ټول بشره
حنيفي له انتظاره ټول اوبه شو
لکه شمه ويلي کيږي پاي ترسره

## تيندکونه قبلوم

نهضت ستانيزي

دخداي په سپينه لبار کي تيندکونه قبلوم
که مرمه باك يي نشته دي مرگونه قبلوم
***
که ټول کړم کړم شم يا په سرولمبو کباب
جگړه او جهاد پريږده سره اوورونه قبلوم

# د ننگرهار په بي گناه خلکو وحشيانه بمباري په کوم جرم؟!

دفرهاد «نسل» ليکنه

د ننگرهار غيرتي اوياهمته خلکو چي دافغانستان په اسلامي انقلاب کي کوم رول لوبولي، اوددي سپيڅلي انقلاب دکاميابي اوبرياليتوب لپاره يي چي کومه سرښندنه اوقرباني ورکړي دا يو ښکاره حقيقت دي . اوله هيڅا پټه نده.
خو دا هلي ځلي اوقرباني ددي لپاره وي چي په هيواد کي به يو سوچه اسلامي حکومت راځي او ددي انقلاب سپيڅلي اوعالي اهداف به ترسره کيږي، ولي متأسفانه چي دانقلاب تر بري او کاميابي وروسته چي ددغو ښاغلو واکدارانو له خوا کومي پيښي ، پيښي شوي نه يواځي دا چي دانقلاب اهداف يي له لاسه ورکړل بلکي په ټوله نړي کي يي دجهاد اواسلام نوم بدنام کړ.
هغـه څـه چي د ښاغلي رباني په دوره کښي وشول اولاکيږي، دافغانستان په تاريخ کښي به مثال ونه لري. ملي شتمني لوټ شوي، دملت مال په شخصي گټوکښي مصرف شو ، بيت المال پکښي شخصي ملکيت گڼل کيږي، او دشهيدانو په وينو قصرونه او بنگلي جوړي شوي ، دخلکو عـزت او ابرو له منځـه ولاړل دمجاهد له نوم څخه دخلکو کرکه اونفرت پيدا شو. اوبالاخره افغانانو ټول هغه افتخارات چي په ترپواله توگه يي گټلي وو وبائيلل او... رباني صيب نه يواځي داچي په هيواد کي اسلامي حکومت قايم نه کړ ، دشهيدانو ، يتيمانو اومظلومانو ارمانونه يي پوره نکړل. بلکي له خاورو سره يي خاوري کړل.
پدي مظلوم ملت يي بيا هماغه کمونستان اوظالمان واکداران کړل دکوموپه خلاف چي مونږ داپنځلس کاله جهاد اومبارزه وکړه . حکومتي نظم اونسق له مينځه ولاړ اوهر څوك ترخپل واك لاندي سيمه کښي پاچا گڼل کيده .
دغو ښاغليو هغو ناروااوظلمونو ته لاس واچاوه چي انسانيت تري شرميږي ددوي دلاسه داسي پيښي وزيږيدي چي ورځ په ورځ به دسيمي دخلکو نفرت ددوي په خلاف زياتيده.
دجهاد اومجاهد له نامه څخه ... استفاده وشوه ، لدي امله دهيواد ځوانه طبقه طالبان دملت ريښتوني بچي پدي مجبور شول چي ددوي دظلمونو پرخلاف راپورته شي اودملت دارمانونو دپوره کولو لپاره دوي سره مبارزه وکړي. پدي اساس دطالبانو اسلامي غورځنگ منځ ته راغي اوپه لږه موده کښي ئي دلوي خداي «ج» په نصرت او دملت په ملگرتيا دهيوادپه زياته برخه کنترول حاصل کړ اوپه دغو سيمو کښي بي مظلوم خلك دظالمانو دظلم اوزياتي څخه خلاص کړل. په سيمه کښي بي امنيت تأمين کړ او اسلامي عـدالت رامنځـته شو، او دمينې او وروروولي فضا حاکمه شوه .
د ننگرهار اولس لکه دنورو هيوادوالوپه څير هم ، همدا ارزو لرله چي له دغه اسلامي تحريك سره يوځاي شي اودملت دعالي اسلامي اهدافو دتأمين لپاره دطالبانو داسلامي تحريك ملگرتياوکړي بالاخره ننگرهار ته دسيمي داوسيدونکو په خوښه داسلامي تحريك سپاهيان راوغوښتل شول، او ددغه ځاي داوسيدونکو لخوا يي تود هرکلي اوپوره استقبال وشو. د ننگرهار په غيرتي سيمه دامن کـوتره راوالوته او دخـوښي او خوشحالي فضا رامنځته شوه، خلکو ابله دارام ساه واخيستـه او دخپلو کوروټو دساتني او څوکيداري څخه بي غمه اومطمئن شول. خوله بده مرغه دنش په نامه اسلامي دولت اردو دعسکرو لو اجيرانو لخوا شديده بمباري پيل شوه، هغه ننگرهار ديوي سختي اوبي رحمي بمباري لاندي ونيول شو. کومه سيمه چي همدغو مشرانو مامونه شميرله او دامن کورني باله ، دورباني اوحکمتيار اسلامي اردو؟ په هغه ځاي بمونه وغورځول په کوم ځاي کښي چي همدغه مشران څو څو واره پدي خاطر جرگه شول، چي په ملت کښي سوله رامنځته شي اواسلامي حکومت جوړشي. هغه سيمه بمباري شوه دکومي سيمي خلکو چي دانقلاب له پيله ترنه داسلام ببرغ هسك نيولي اودهر طاغوت مقابله يي په مزه کړي . له بده مرغه دا بمباري دهغه حکومت لخوا کيږي چي صدراعظم يي ښاغلي حکمتيار دي، که يواځي مسعود پدي ځاي بمباري کړي واي دا دومري انديښني ور خبره نده ، ځکه چي دمسعود ملت دښمني له هيچا پټه نده، اونه يي پدي سيمه کښي لکه دښاغلي حکمتيار پاخه ملگري لرل . خو ښاغلي حکمتيار بايد له لږ سوچ اوفکر څخه کار اخيستي واي. چي دا دده په اصطلاح دده « اسلامي اردو؟» په کوم ځاي او دچاپه سرونو بمونه غورځوي . مونږ دلته د ښاغلي حکمتيار څخه يو څو پوښتني لرو او هغه داچي . ايا داهغه ننگرهار ندي چي ته په کښي دخپل کور په څير اوسيدي ، اوخپل دوهم کوردي باله ؟!
ايا دا هـغه خلك نه وو چي تاته يي دمينې لمبر خلاصه نيولي وه ، اوديوه افغان مشر په څير يي تل ستاقدر اواحترام کاوه!!
ايا داهغه اولس نه و چي دانقلاب پدي اوږده موده کي ستا ترڅنگ ولاړو ، اولکه ديو افغاني مشر په څير يي ستادمشر تابه لاندي دروسانو مقابله کوله؟!
دا خو دهيچا ضمير نه مني چي څوك خپل کوروالي، دخپل ستنگر ملگري ووولي، اوهغه څوك وولي چي په هر ډول حالاتو کښي ورسره څنگ په څنگ پاته شوي وي. اوس نه پوهيږو چي دلته څوك راغلل او څه پيښ شول چي ستاسي داسلامي اردو؟ توورزنان اواجيران دامظلوم خلك په بمـــونو ولي اوبي گناه خلك وژني . دايوداسي عـمل دي چي نه اسلام ددي اجازه ورکوي اونه پښتو.
نوښاغليو ددولت رئيس اوصدراعظم صاحبانو!! دملت مشران خو په ملت نه بمونه وروي. اونه يي وژني بلکي دهغوي دکاميابي اونجات لاري چاري لټوي. تن خـو د ننگرهار خلکو ابله د ارام سـاه واخيســـ او داس په هغـ کښي بي دا ... کيږي ... کبرږي؟!
دلتـه خو داسلامي تحريك ځوانان ددي سيمي داوسيدونکو په خوښه راغلل او ددي ځـاي واك يي ورکـړ . چي دا ددي ځاي داوسيدونکو خپله خوښه اوخپل مسلم حق دي چي هر چاته دخپلو چارو واك ورسپاري. دانه کومه گناه اونه کومه بده پيښه ده.
په هر حال که ددي وس په سر لدي نور هم زياتي ستـــــري وشي ، اولدي زيات وويشتـل شي ، انشــا ءالله دطالبــانو داسلامي غورځنگ دسپاهيانو ترڅنگ به داخري سلگي پوري ولاړوي. اوهيڅکله به نوروته ددي اجازه ورنکړي چي بيا څوك مظلومـان ازار کړي اودملت په سرلوبي وکړي.
پدي وحشي بمبـاريو کښي چي کـومي ميندي بوري شوي ، او کوم ماشومان يتيمـان شول اوکومي خويندي ورارې شوي، ايا دوي لدي اسلام غوښتونکو مشرانو نه همدا هيله اونه درلوده؟!
ايا د ننگرهار سيمه بيا روسانو وښوله اوکـه نه دلتـه دملت خپل بچي علـب ، اوطالبان راغلل؟!!
بياهم مونږ دکابل له واکدارانو دانـه لرو ، کـه غـواړي چي په هيـواد کښي سـوله اوارامي راشي ،اسلامي حکومت جوړشي ، نوخپلي وسلي دي دتحريك ځوانانو ته وسپاري اونوره دي له ملت سره دښمني پريږدي . پدي بي گناه خوار اومظلوم ملت دي نوري داجگړي بندي کړي، اوکه نه نو هغـه ورځ انشــاء الله راتلونکي ده ، چي مجرمان به له خپل بد انجام سره مخامخ شي. دکابل په هـکو غرونو به داسلامي تحريك اسلامي بيـرغ وريږي اودملت ددښمنانو تاريخ به په تورو پاڼو کښي ثبت شي ، ځکه چي ملت اوس ويښ دي خپل دوست اودښمن بي پيژندلي ،اوپه تشو دعوو نور نه غوليږي!!!

***

# دعـزت لـيـار

شاجهان سرداري

عـزت او ذلت بادرناوي اوسپکاوي دوه متضاد صفتونه دي چي راکړه ورکړه ئي دلوي خداي «جل جلاله» په اختيار کي ده . او که خداي پاك چاته دعزت ورکول وغواړي هغه ته عزت ورپه برخه کوي او چاته بي چي د ذلت ورکـولو اراده وشي نو هغـوته ذلت اوسپکاوي ورپه برخه کيږي.
مگر سـقـــ ... دنوي ځښتن تعالي ددغـو دووصـــفـاتو چي ...ي په زړه پوري اوپل لي ناوړه دي، دهغــو دواړو دگټهلو لپـاره بي گـانگړي لاري چاري ښودلي اوکه يوڅوك ددغـو دواړو صفـاتو څخـه د هر يوه لار خپله کړي، خداي «جل جلاله» هماغه ورپه برخه کوي.
عـزت اودرناوي خداي «جل جلاله» دخپلو احکامـــو په پوره منلو کي ايښي ، اويو مـسلمان چي همېشه دخداي «جل جلاله» په لپاره برابر او دشيطان له غوښتنو گوښه وي هغه دتل لپاره عزتمن اودرناوي څښتن وي ، اوذلت او سپکاوي خداي «جل جلاله» دخپلو اوامـرو څخـه په ـــ سرغړونه او دشيطان دغوښتنو په لټهون ...ي ترلي اوهرکله چي يوڅوك دشيطان په دام کي ورگير شي هغه بيا ذليله ، خوار اوسپك وي. دنفسي خواهشاتو پوره کـول هم انـسـان ذلت ته راکـاږي او همدا علت دي چي اسلام دنفس سره جگړه اومبارزه اکبر ... نوي جهاد بللي دي.
... نه انسان څخه ډير ... څه غواړي ، هغه څـه ... ري غـواړي چي دهغي په وس کي نه وي ،پس هغه مجبور دي چي دترلاسه کولو لپاره بي له ټولو مشروع او نامشروع طريقو څخه استفاده وکړي. چي داکار پخپله انسان دذلت اوخواري سره مخ کوي. له انسانانو څخه طمع کول اوبيا دڅه غوښتنه هم سړي ته ذلت راوړي، ځکه انسان داحســان تابع وي او کله چي ورسره څوك يوڅه وکړي نو خامخا به ورڅخه متأثريږي.
د دنيا سره مينه اودعيش سره محبت چي کله له خپل معلوم حد څخه واوړي داهم انسان خواروي اوذلت بي ورپه برخه کيږي.
بناء که يوڅوك وغواړي چي عزتمن واوسي، قـدرمن ژوند تيـر کـړي ،به پوهيږي لنه کي درونډ پاتي شي اوپه اجتماع کي ديو سترنوملي به توگه ښکاره شي نو ، داسي سړي ته شاني هغه ليــاري چاري عـوره کـړي چي هغـه سړي ته حقـقي وريښتوني درناوي ورپه برخه کړي. له ذلت څخه بي ژغوري، له سپکاوي ئي ساتي اوپه ژوندانه کي نيکمرغي اوخوشي ورته حاصليږي.
دخداي «جل جلاله» قانون ته هر اړخيـز تسليمدل، دنفس دغوښتنو سره کلکه مبارزه او مجاهده ، دانسانانو څخه دعزت دغوښتني پري کول، ددنيا بي عيش اوعشرت بي گټي اوبي ارزښتــه گڼل او ... هغـه څـه وي چي انسـان ته عزت ورکوي او دسپکاوي څخه بي ساتي.
که دتاريخ په مختلفو پړاوونو کي داسلامي امت کړه وړه تر غـور اوڅيړني لاندي ونيسـو نوکيږ مونږ په دا حقيقت راښکاره شي چي هر کله چي مسلمانان دخداي «جل جلاله» په لاره سم روان وو اوددعـزت منبع بي دخـداي «جل جلاله» د اوامرومنل گڼلي وه ، هغـه وخت دا امت عزيزو او ددرناوي گـراف بي ترټولو لوړ و . مگرهر کله چي هغــوي دخپلو نفســي غوښتنو پيروي کړي، له بشر څخه بي عزت غوښتي ، دانسانانو څخه د درناوي په لټه کي شوي اودنيايي ماديات بي دقدرمني معيار بللي ، نوهغـه وخت دوي دذلت اوخواري سره مخ شوي، هغه وخت بي خپله خپلواکي بابللي او دنورو په وړاندي ټيټ سري شوي دي.
په همدي توگه که پدي وروستيو څوکلونو کي دخپل هيواد خوروترخو ته نظر وکړو نوبيا به هم داخبره لکه دلمرغوندي راوبرسي چي عزت او درنښت دلوي خداي «جل جلاله» دقوانينو اوشرائعو په منلو کي نغښتي دي اودهغي څخه سرکشي دذلت اوخواري سبب گرځي .
دتيرو دوولسيزوپه اوږدوکي زمونږ په وطن دوه ځانگړي مرحلي تيري شوي. لومړي مرحله زمونږ دولس لپاره دعزت اوسرلوړي مرحله وه ، پدغه مرحله کي دافغان ولس دنړي اتل قهرمان بلل کيده او دنړي ټولو خپلواکي غوښتونکو به پري فخر اوويارکاوه . او دهغي براځيني سبب همدا و چي هغه وخت دټولو سره ديال خداي «جل جلاله» دقانون پلي کول مطرح و ، هغه وخت ټول دنيا دښيگو په طمع کي نه وو . هغه وخت ټولو دنفس دغوښتنو تابعداري نه کوله اوهغه وخت دخلکو دمالونو اوناموسونو ټول دعزت سرچينه نه گڼل کيده.
خو دکله نه چي ددي وطن فسادتونو دعزت اصلي اوحقيقي لياريريښوده ، اودکمي پرگاي دترشـــ په لـ ره روان شول، دعزت معيارپي سوترې، بنگلې ښتگې او ... وگڼلي ، دچوکيو اومنصبونو په محبت اوعشق کي دومره لتاړ شـول چي نورهر څـه بي له ياده ووتل ، او دخداي «جل جلاله» د اوامرو تواهيوپولي بي ســاتي کـړي نو هله دا خلك دذلت په لور وخوځيدل ، اودوهمه مرحله چي دسپکاوي اوعار څخه ډکه وه هغه پيل شوه .
پدي مرحله کي دافغانانو ټول وياړونه ولـسونو له پامه وغورځول اودافغان ولس هرعمل بي دهغوي دقيادتونو په ناوړه اعمالو قياس وه . اوددي اصلي وجه همدا وه چي دخداي «جل جلاله» دقانون څخه سرغړونه وشوه ، اوددلت لاري ونيول شوي.
دخداي دقانون شاته کولو زعامتونه دومره ذليل او خوار کړل چي په تاريخ کي ئي ساري نه دي ليدل شوي. دولس دتاتيد او ملاتړ څخه ئي داسي محروم کړل چي ئن ورځ دخولونمارو او داړه مـارو پرته بل څـوك په څنگ کي نه لري.
دا چي نن ورځ دکابل دښار دغويکيانو مشران کله روسانو ته چيغي وهي چي مونږ وژغوري، کله هندوانو ته ناري وهي چي مـونږ ته لاس راکړي، کله اوزبکستان ته ځغلي چي مرسته راسره وکړي، کله دتاجك کمونستانو څخه يغواړي چي خلاص موکړي، اوکله ...
او دومره لوي سپکاوي بي په برخه شوي ، دهغي لاسل همدا دي چي هغـوي دعـزت لياريريښي او نوري لاري چاري بي خپلي کړي دي.
څرنگه چي دطالبانو داسلامي تحريك بچيانو پدي وطن کي داسلامي نظام چيغه پورته کړي اوغواړي چي دلته دخداي «جل جلاله» قانون پلي شي. دهغي اصلي هدف همدا دي چي داوطن دعزت خاوند وي، داقوم د وياړڅښتن وي اوداولس قدرمن واوسي.
ددي ولس د وروستي نسل اصلاح به په هغه څه راځي، اوپه هغه څه به عزتمن کيږي. چي په هغي بي پرومبي اصلاح راغلي اوپه هغي پرومبي عـزتمن شـوي دي . نوځکه خـو دطالبانو اسـلامي تحريك پدي وطن کي داسلامي شريعت قيام اونفاذ اعلان کړي او پدي لاري کي سرښندنې کوي.
نو داچي اسلامي تحريك زمونږ دولس دعزت په لټهون کي دي له همدي کبله ورته زمونږ وطنوال دهيواد په گوټ گوټ کي په سينه اواخلاص هر کلي وايي اوټول ئي د راتلو په انتظار دي ، ځکه ټول پوهيږي چي دده عزت ليار ديوخداي دحاکميت منل دي ، اوبس .

# آزاد خبریال :

## سید حسین نجیبی وویل :

څواکونو وحشتی چی په خپلو وظیفو ولاړو و دخلکو په سمون اولاربنوونو کی ددوی حوصله زما خوښه شوه ،شور او زور ته اوربند کیده اوارامه ارامی وه . ډانګ ،لیښه ، متروکه ،کوتک اووسله ورسره نه وه ،خو نظم اودسپلین ډیر په زړه پوری و اوخلکو په تمامه معنی ددوی داوامرو پیروی کوله اگر چی په هغه ورځ پاکستان ته دافغانانو په مخ پاکستانی ملیشو دتورخم دروازه تړلی وه خو دوی هم دطالبانو په پیروی له رشوت اخستلو څخه امتناع کوله خولږ وروسته دطالبانو په غوښتنه دغه دروازه دافغانانو پرمخ خلاصه شوه اوپاکستان ته دخلکو د راتګ بهیر پیل شو. جلال آباد ته دتګ په وخت کی په موټرو بیروبار ډیر و او فلاینکوچونه تش روان وو دموټروانانو ترمنځ دکرائی د کمولو مسابقه شه په درز کی روانه وه اوګڼشو ګڼ موټرودپنګه زړه افغانیو چیغی وهلی، په موټر کی ترسوریدو وروسته ترجلال آباده پوری ډیره ارامه فضا حاکمه وه،پاټکونه نه وو محصول اخستنه نه وه، وسله وال اشخاص په دوربین کی نه ښکاره کیدل، پوالځی ددکی دسرحداری څخه لږ وړیر یوسوی موټر تراوسه پوری پروت و ، موټروان وویل انجنیر محمود او استاذ سازنور دخپلو اویاتنو ملګرو سره په همدغه ځای کی شهیدان شوی اولدی وروسته په ننګرهارکی هیڅ پیښه نه ده شوی اوخلک دطالبانو له حکومت څخه پوره خوښ دی، اگر چی دحکومت بمباریو په جلال آباد ښارکی څه ویره اچولی وه خو ژوند په عادی ډول جریان درلود، ټولی حکومتی اداری فعالی وی اوکارونه په منظم ډول پرمخ روان وو، طالبانو مامورینو اوښوونکو ته اعلان کړی و ، چی لدی وروسته به معاش میاشت په میاشت درکول کیږی اوله تثبیت وروسته به پاتی معاشونه هم درکړو خو مامورین اوښوونکی دمعاش په اضافه والی ډیر خوشحاله وو ځکه دوی ویل طالبان تصمیم لری چی کم معاش باید د زرو کلدارو معادل وی، په ټولو ادارو کی بیروکراسی له منځه تللی وه، رشوت نه و او واسطی نه چلیدی، ټولو غریبو اوبی وزلو په ډیری انسانی خپل حقوق لاس ته راوړل، په ښارکی دښځو ګڼه ګوڼه کمه شوی وه اوکومی چی ګرځیدی هغه

په هم په شرعی لباس ملبسی وی.

په ننګرهار کی دټولو ګوندونو دوسلی ذخیری او غونډونه له مزاحمت پرته طالبانو ته تسلیم شوی چی دانتقال لړی یی دننګرهار مرکزی ډیپوګانوته جریان درلود ، دننګرهار په ټولو ولسوالیو کی نوی خلک مقرر شوی وو او له اعلان وروسته ټوله تنظیمی وسله دطالبانو موظفو اشخاصو ته تسلیمیده اوممکن دغه کار په یوه میاشت کی بشپړشی . دجمعی په ورځ دطالبانو داسلامی تحریک قواو دلغمان ولایت په دولت شاه کی دمقابل لوری وروستی ځاله وځپله ، دعبدالله جان په شمول یی ټول افراد وتښتیدله اوپنځه ویشت مړی یی دجنګ په ډګر کی پریښودل، سرخکان ،چارباغ،قرغیی ، علیشنګ ،علینګار اودولت شاه ټول دطالبانو په کنټرول کی دی ددغه ولایت ټول اوسیدونکی دطالبانوله ورتګ څخه خوشحاله وو اوټولی تنظیمی وسلی یی طالبانو ته تسلیمولی. دشنبه په ورځ دحضرت علی او دګینو نورو قوماندانانو قواو دهبوی په ولسوالی برید وکړ، خو داسلامی تحریک ویاړمنو مجاهدینو هغوی پسی واخیستل ځپوه ، دره نور ، نورګل دری واړه اولسوالی داسلامی تحریک قواو تصفیه کړی مخالفین تښتیدلی و اوپنځلس کسه مړی یی پریښی وو ډیره درنده اوسپکه وسله ،څلور داوښتی اومنی بوس موټر له مخالفینو څخه په ځای پاتی شوی و چی دطالبانو داسلامی تحریک قواو جلال آباد ته رانقل کړل او اکثر خبریالانو ولیدل.

دطالبانو بوویاند وویل چی دکونړ شورا دطالبانو اسلامی تحریک ته خپل بیعت رالیږلی اوډیر ژر به ددغه تحریک قواوی دهغوی په غوښتنه چغه سرای ته ورداخلی شی په خپله په جلال آباد کی دخوګیانو، شینوارو، مومند اونورو قومونو خلک دطالبانو اسلامی تحریک ته دبیعت ورکولو په غرض ډلی ډلی دولایت مانی ته ورتله وتل اوبیعتونه یی ورکول اوله دغه تحریک سره یی د هر ډول مرستی ژمنه کوله کله چی په دغه ګڼه ګوڼه کی زه هم له یوی ډلی سره ورننوتم ملا ربانی دشرقی زون رئیس له روغبړ څخه وروسته وویل چی دافغانستان په آزادی کی دټولو مجاهدینو

علمای کرامو ته رجوع کړی اوله هغوی یو داجراتو او جهادونو قوماندانو اخیستی ده تر داخل هم علماوته رجوع وشوه اوعلماء دمشکلاتو دحل اودهیواد دژغورلو لپاره دډیر طالبان دیوه اسلامی او ژغورنده لښکر په توګه ددی کار لپاره استقبال کړل. طالبان دیوه پاک دینی قشر په توګه میدان ته راوراندی اوداالله په نصرت یی له زیاتو افغانستان څخه هر راز فسادونه ورک کړل طالبانو ولاتجی دغو ځولولپاره دمذاکراتو لار خپله کړه، خوله بده مرغه ربانی ،سیاف مسعود او حکمتیار په خپل نوبت سره پرمو، جګړه وتپله اوپر موږیی بریدونه پیل کړل.

لوی څارنوال زیاته کړه. ربانی پنځه ځلو دنیاته وویل چی په ټاکلی نیټه به استعفا کوی خو وفائی ونکړه اودملت په وړاندی ئو خپلی دسیسی پراخی کړی. دهیواد په جنوبو سیمویی بی رحمانه برغلونه پیل کړل اسلامی تحریک دولس په پراخ سلاتی دی ته مجبور شوچی دښمن ته ځواب ورکړی ترڅو نتیجه کی دهیواد ځینی مشرقی ولایتونه فلچ اودسولی لپاره د امید نوی پړاوپیل شو.

لوی څارنوال زیاته کړه . دطالبانو هدف دادی چی د(۱٤) کلن مقدس جهاد ارمانونه تحقق ومومی اوموږ ددی کارلپاره سوله ایز مبارزه کوو خودا چی دښمن داګار نه منی نو بیا چمتو یو چی په توره خبره غوڅه کړو.

هغه زیاته کړه دابه له انصافه لری خبره وی چی دهیواد دسرنوشت په ټاکلو کښی قاتلان هم برخه ولری، حقه خبره داده چی قاتلان باید محاکمه شی اوله هغوی څخه دمظلو ملت حق وغوښتل شی خبری له اوردی مفاهمی وروسته پای ته ورسیدی

## طالبان د یوه پاک قشر په توګه ...

لوړتیه ترسره وکړل.

مجلس دقرآن عظیم الشان دڅومبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شو او له پښه راهلاست اوځه مقدماتی څرګندونو وروسته په اصلی موضوعاتو باندی خبری پیل شوی.

دخبرو په پیل کی مبارک کړل وویل ملګری ملتونه دافغانستان دمسئلی حل غواړی اوهڅیده لری چی په افغانستان کی دطالبانو په اسلامی تحریک برسیره له نورو اړخونو سره کتل دافغانستان دمسئلی په حل کی مرسته کوی ځکه نوله ټولو خواوسره ګورواوپه پای کی خپل راپور دملګروملتونو عمومی منشی ته سپارو. ښاغلی کرل وروسته ځینی سوالونه مطرح کړل .

وریسی لوی څارنوال محترم حاجی ملامحمد عباس آخند وویل داچی دلومړی ځل لپاره ملګروملتونو افغانستان ته دلوړی سطحی هیئت راولیږه اودافغانستان دکشالی له ځل سره یی زیاته علاقه وښودله موږ پری خوښ یو، خویه دی رابطه غواړم ځینی واقعیتونه هم څرګند کړم . دتاسو په یاد دی چی له روسانو سره دجهاد اومقابلی په وخت کی دافغانستان ټول ملت دجهادی رهبرانو تر شا ودریدو اوپه نتیجه کی هروسانو امپراتوری له پښوغورځیدله اودری وری شوه له هغه وروسته په افغانستان کی دګډوډی مرحله پیل شوه، که څه هم دملګرو ملتونو دمؤسسی په ګډون ډیرو کوششونه وکړل چی مسئله حل شی، خو دا چی ځینی غبنی واقعیتونه اودملت اراده په پام کی ونه نیول شوه دغه ټولی هڅی له ناکامی سره مخامخ شوی. زموږ هیواد په هر لحاظ له تباهی اوبربادی سره مخامخ شو او دمصیبتونو سطحه لوړه ولاړه ، خو ځرنګه چی زموږ دهیواد دلرغونی تاریخ په هر خطر ناک پړاوکی مسلمان ملت

## دکابل کندهار ...

کی په دی وروستیو ورځو کی دکابل -کندهار دلویی لاری دترمیم کار هم پیل شوی او کارګران په ډیره مینه اواخلاص دوطن دآبادی په چارو بوخت دی.

خبریال زیاتوی کله چی له غزنی څخه ترکندهار پوری پرغزیدلی سړک باندی ترمیم کارپیل کیدو، نو دکار له پیل څخه دمخه دعظیم الشان قرآن ختم وشو او ترختم وروسته دلوی خدای «ج» په دربارکی دوطن ارامی، سوکالی اوابادی لپاره لاسونه پورته شول.

په دغه سړک باندی دترمیم کار په چټکی سر مخ په وړاندی روان دی اوتمه ده چی په ډیر لږه موده کی به دهیوادوالو په وړاندی دغه دتګ اوراتګ ستره ستونزه له منځه یووړه شی.

## دطالبانو داسلامی ...

دلوی خدای «ج» په مرسته یی هغه په شاوتمبول او دائتلافی اداری داجیرو ځواکونو دجنګ لمړی کرښه یی ماته کړی ده او په وریښمین تنګی کی دسروبی په لور روان دی.

دکابل دائتلافی اداری په درځنونو مړی دجګړی په میدان کی پاتی دی. داسلامی تحریک مجاهدینو له هغه فرصت نه په استفادی سره چی مخالف لوری دتعرض دپاره تیځ کړی ساتونه ایستلی وو. اوس داسلامی تحریک مجاهدینو ددښمن ځواکونو ته دافرصت ورنکړ چی بیرته ماتونه تیځ کړی اواوس دالله تعالی په فضل سره له لمړی لیکی څخه تیز مخ په وړاندی روان دی.

درناوی کول دټولو افغانانو ارزوده خو دفرضو په اداء باندی قیام هیڅکله ددولت اودخلکو دارائی ورته نه شی مباح کولی اوچاچی دولتی اموال اودخلکو شخصی اموال لوټلی وی باید بیرته یی ورکړی. اوسرتکیبن نی داسلام داصولو سره سم په شرعی محکمه کی محاکمه شی. ملاربانی وویل چی موږ ننګرهار ته سناسی په خوښه اوغوښتنه راغلی یو چی ترڅو دخدای «ج» قانون دخدای «ج» په ځمکه کی پلی کړو. ده وعده ورکړه چی سناسی دغه هدف ته به په ټول افغانستان کی دعمل جامه وراغوندو .ده وویل په ننګرهار باندی دکابل حکومت بمباری ددوی دوارخطائی نښه ده او نور به پخپله تښتی وریپنی مو وروسره خدای په امانی وکړه اوزه بیرته پیښورته راستون شوم.

## دهیواد په بیلو بیلو سیموکی غیرقانونی وسلی ونیول شوی

په جګره خپلی هیواد کښی دیشیی امنیت دتأمین په منظور داسلامی تحریک ترکنټرول لاندی سیمو کی دوسلو اومهماتو د راټولو په لړکی په دی وروستیو وختونو کی بوزیات شمیر وسلی اومهمات دمجاهدینو لاسته ورغلی دی دیوخبرله مخی دهلمند ولایت امنیتی ځواکونو دولایت په سرحدی سیمه کی دوه فیره دالوتکوضد ستنګر ترغندی ، یومیل زیکویک اودری میله ثقیل ماشیندار هغه وخت دملی ښمنیو له لوټمارانو څخه ترلاسه کړل چی دپلورلو لپاره ییهرته وړل اومجرمین وتښتیدل. دبل خبرله مخی دکندهار ولایت دبنجوایی ولسوالی دمؤظفوامنیتی مجاهدینو له خوایومیل ثقیل ماشیندار ، دوه میله راکټ اودری میله کلاشنکوف چی په یوبت ځای کی ځای پرځای شوی وو کشف اودامنیتی قومندانی دوسلو دیپوته انتقال شول. دغه راز د وردګو ولایت څخه دیوه بل خبر له مخی په هغه ولایت کی یوشمیر کلاشینکوف (۱۰) میله توپک دوه میله زیکویک ، یومیل راکټ ، یوه پایه مخابره ، اوزیات شمیر مهمات دمجاهدینو له خواترلاسه اوډیپوګانو ته نقل شوی دی . دغه راز دکندهار ولایت دسپین بولدك د ولسوالی مربوط دحسن زی په کلی کښی دهغی ولسوالی دمجاهدینو له خواد وسلو یو ډیپو کشف شوی چی دهغه څخه (۱٦)

میله کلاشینکوف یومیل راکټ یوه بی ایم دستګاه ، یومیل ثقیل ماشیندار(۲) میله میکاروف توپانچی (۱۰۰)فیره دراکټ، او (۲۰) صندوقه دداشکی اوزیکویک مرمی دامنیی قومانداني .ډیپو ته یووړل شول.

## ربانی دی د ...

څیرنی لاندیونیول.

غونډه دعظیم الشان قرآن دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه او بیا دغونډی برخه والو په وار سره دهیواد دحالاتو په اړه اوږدی او ګټوری خبری وکړی او په مشرقی ولاياتو کی یی دطالبانو داسلامی تحریک وروستی بریالیتوبونه وځیړل.

دغونډی برخه والو دکابل دائتلافی اداری په جمهوررئیس استاد ربانی غږ وکړ په داسی حال کی چی دملت غوڅ اکثریت یی مخالفت کوی اوددی ترڅنګ دطالبانو داسلامی تحریك دځواکونو ترکنټرول لاندی له تیمایی نه زیاتی سیمی راغلی دی، نولازمه ده چی له دغه تش په نامه قدرت څخه استعفی ورکړی اونور دی دهیوادوالو دبی ځایه وینو تویولو مخه ونیسی.

دوی وویل اوس هغه وخت رارسیدلی دی چی استاد ربانی پخپله وعده وفاوکړی اودملت غوښتنی ته مثبت ځواب ووایی ترڅو دمسلمان ملت له ارادی سره سم داسلامی حکومت دجوړیدو لپاره لاره اواره شی.

دغونډی په پای کی په مشرقی ولاياتو کی دطالبانو داسلامی تحریک د وروستیو بریالیتوبونو هرکلی وشو اوله دغه اسلامی تحریک سره داسلامی پاځون دشوری غوڅ ملاتړ څرګند کړای شو.

غونډه په هیواد کی داسلامی نظام دټینګښت اوامن اواستقرار د راتلو په دوعا پای ته ورسیده.

## دجلال آباد او ...

وکړي اوکه څنګه ، محترم ملا بورجان اخند وویل چی زمونږ هدف دکابل نیول نه دي موږ غواړو چی په ټول افغانستان کي شرعي نظام نافذ شي.

دجلال آباد مظلومو خلکو څخه ددفاع دپاره سونړه دافع هوا ، ستنګر ، اوشکاري الوتکي اماده کړي دي ډیر ژر به دکابل دا داري ددغو ظالمانه اعمالو مخه ونیسو.

دهرات والي محترم ملا یار محمد اخند آلماني هیئت ته وویل:

## دهیواد دروازه زموږ د مهاجرو وروڼو پرمخ خلاصه ده اوهر وخت کولای شی چی خپل هیواد ته راستانه شی

دافغانستان په زیاته برخه کښی له ثبات اوامنیت له تأمین څخه داګاهی اودافغانی مهاجرینو خپل هیوادته دبیرته راستنیدو دلارو چارو دڅیړلو په خاطر دالمان اتحادی جمهوریت هیئت دهرات ولایت ته راغلی و او هلته یی دهغه ولایت له محترم والی حاجی ملا یارمحمد اخند سره دولایت په مقام کښی وکتل. زموږ دخبریال دخبرو له مخی په تومړی کښه کښی راغلی هیئت له محترم والی سره دافغانی مهاجرینو دراستنیدو اومیشته کیدو په هکله هر اړخیزی خبری وکړی چی

اوس دهیواد په لویه برخه کی دطالبانو داسلامی تحریك له خوا امنیت راغلی اواوسیدونکی خلك خپل ورځنی ژوند په ښه دول سرته رسوی نوځکه باید دالمان له هیواد څخه افغانی مهاجر وروڼه خپل پلرنی ټاټوبی ته په خیر راستانه شی.

وروسته محترم حاجی ملا یارمحمد اخند په مقابل کښی وویل: چی زموږ دهیواد دروازه دخپلو مهاجرو وروڼو پرمخ خلاصه ده اوهروخت کولای شی چی په ډاډه زړه خپل هیوادته راشی اود پوره امن په فضاء کی خپل آرام ژوند پیل کړی.

## زموږ فیض هغه چانه خلاصه ده چی دتخریب فکر ونه لری کولای شی دطالبانو تر کنټرول لاندی سیمو کی عادی ژوند ته دوام ورکړی

(محمرم ملاعبدالصمد خجندی)

له میدان ښار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دتیری سه شنبی په ورځ دترخ دولسوالی علماو، سپین ږیرو اوعامو خلکو یوه پرتمینه غونډه وکړه .

په غونډه کی دعظیم الشان قران دځومبارکو آیتونو له تلاوت نه وروسته دترخ علماو اوقامی مشرانو دهغه ولایت والی محترم ملا عبدالصمد خجندی ته ډاډ ورکړ چی په هیواد کی به داسلامی نظام دټینګښت اوشریعت دنفاذ له پاره داسلامی تحریك له مسلمانو ځواکونو سره اوږه په اوږه ولاړ یو اوپه دی مقدسه لارکی به له هیڅ دول قربانی نه ډډه نه کوو.

په مقابل کی دمیدان والی محترم ملاعبدالصمد خجندی دهغوی داسلامی احساساتو له امله مننه وکړه او وعده یی ورکړه هغه څوك چی له سیمی نه وتلی دی کولای شی چی په پوره ډاډ اواطمینان خپلو کوروته راستانه شی، زموږ فیض هر چاته خلاصه ده اوهرڅوك چی دتخریب فکرونه لری کولای شی دطالبانو ترکنټرول لاندی سیمو کی خپل عادی ژوند ته دوام ورکړی.

## په لغمان کی د ...

غوڅه توګه تصفیه کړی.

زموږ خبریال له جلال آباد څخه خبر راکوی چی کله څه هم دطالبانو اسلامی تحریك ځواکونو غوښتل دتفاهم اوخبرولو لاری مشکل حل کړی، خو مقابل لوری په جګړی ټینګار کاوه ، نو دمجبوریت له مخی طالبان مجبور شول په نظامی عملیاتو لاس پوری کړی.

په دی بریالیوعملیاتو کی دغه دواړه ولسوالی دکابل دائتلافی اداری له پلویانو څخه تصفیه شوی. دائتلافی اداری دځواکونو ۲۵ تنه دمقاومت په نتیجه کی ووژل شول او ۵۰ تنه یی ژوندی ونیول شول.

خبریال وایی چی په دی بریالیو عملیاتو کی له مقابل لوری څخه زیاته اندازه سپکه او درنده وسله دطالبانو داسلامی تحریك دمیړنیو ځواکونو لاس ته ورغلی چی دبیت المال ډیپوګانو ته لیږدول شوی ده.

اوس په لغمان کی په غوڅه توګه امنیت دی او خلك په ډاډه زړه خپل ورځنی ژوند ته دوام ورکوی.

## د ننګرهار د ...

یکی شریك شول.

خبریال وایی دطالبانو داسلامی تحریك په نمایندګی محترم مولوی محمد صادق له یو شمیر نورو علماو سره په فاتحه کی ګډون وکړلو دشهیدانو روح ته یی دوعا وکړه اودهغوی کورنیو ته یی دصبر جمیل غوښتنه وکړه .

په شهیدانو کی شهید قومانداان انجنیر محمود ، استاد سازنور ، شهید محمد اکبر مجددی او یو شمیر نور قوماندانان اوسرګروپان شامل و چی دیوی ناروا او نامردی توطیی په نتیجه کی په شهادت رسیدلی و .

( انالله ...)

موږ په داسی حال کی چی ددغو شهیدانو لپاره دمغفرت غوښتنه کوو دهغوی کورنیو ته صبرجمیل غواړو، په دی دردنده غم کی له دوی سره څانونه شریك بولو.

دغه راز زموږ خبریال خبر راکوي چي تیري پنج شنبي په ورځ د پیښور په سپین جومات کی د انجنیر محمود اواستاذ سازنور دفاتحي مراسم ترسره شول. اوپه دغو مراسمو کی زیات شمیر علماؤ کرامو سپین ږیرو اومشرانو ګډون کړي و او دمرحومینو ارواحو ته یی دوعاوي واستولي.

## په سروبی کي د ...

رانژدی ده چی د طالبانو ځواکونه به کابل ته لنوری تو بهتره داده چی سخکی له سخکی دطالبانو په لیکو کی ودریږو.

خبریال وایی اوس په سروبی کی د ائتلافی اداری دځواکونو جنګی مورال دومره کمزوری دی چی هسی څوان دطالب نوم هم واخلی نوله دوی نه به دتیښتی لار ورکه وی. خو طالبان نه غواړی په جنګ ولسوالی ته داخل شی اودافغانانود زیاتو وینو توئیدو سبب شی.

همدا اوس دطالبانو ځواکونه په سروبی کی دائتلافی اداری له خوا راوستل شویو قوتونو سره په تماس کی دی اوداهیله پیداوری شوی ده چی ډیر ژر به له وینو توئیدلو پرته په سروبی کی پراته ځتونه له منځه یووړل شی.

## په کندهار کي ۱۰ ...

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دهمدغی اسلامی اوانسانی تګ لاری په پیروی هیڅوك اجازه نه لری چی په خپله ځمکه کی بنګ اوبا ترپالد وکړی . په همدی توګه ددغو نشه یی موادو په پیرلو اوپیرودلو باندی هم سخت بندیز لګیدلی دی.

خبریال وایی چی دهمدغه اصل له مخی په تیرو څو ورځو کی دکندهار ولایت دامنیتی ځواکونو له خوااشینه کیلو چرس په داسی حال کی ونیول شول چی خاوند یی غوښتل دخرڅلاو لپاره یی بازار ته عرضه کړی.

چرس ضبط شوی اومجرم دتحقیقاتو دتکمیل لپاره امنیه قومانداني ته سپارل شوی دی ترڅو دخپل عمل جزا ووینی.

## مور به دخپلو ...

سیف الرحمن اخندزاده سره ۱۵۰ تنه نور عالمان هم موجود وو اوټولو په یوه خوله په افغانستان کی دطالبانو داسلامی تحریك دځواکونو وروستی بریالیتوبونه وستایل اوپه هیواد کی دامن او استقرار د راتلو په لار کی یی ګټور پرمختګ وباله.

خبریال وایی چی دباړی پیر محترم مولوی سیف الرحمن اخندزاده او اوله ده سره دعالمانو هیئت محترم ملا محمد ربانی ته وعده ورکړه چی په هیواد کی به داسلامی شریعت دنفاذ په لارکی له هیځ ډول مرستی اوهمکاری څخه ډډه نه کوی.

محترم ملا محمد ربانی ددوی له دغی مینی اواخلاص څخه مننه وکړه اوهغوی ته یی وویل چی زموږ اسلامی تحریك دهیواد دعلماو درغنده نظریو او پیشنهادونو په رڼا کی مخ په وړاندی روان دی اوهمیشه به دخپلو پروګرامونو په تطبیق کی دهیواد دعلماو نیکی مشوری له پامه نه غورځوو.

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه ورنکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)


دګډون بیه شپږ میاشتنی کالنی

| | | |
|---|---|---|
| پاکستان | Rs.200 | Rs.400 |
| دخلیج هیوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا وامریکا | US$75 | US$150 |


# کشتی طوفان زده ملك ما درحال نجات است

جریانات وتحولات چند روز اخیر درکشور نشان میدهد که کشتی طوفان زده ملك ما درحال نجات است وملت مسلمان ومجاهد افغان راه نجات وخلاصی را از تراژیدی درد آور فعلی درکشورپیداکرده اند که همان راه ومسیر روشن ونوروانی است که تحریك اسلامی طالبان در پیش گرفته اند وتااین دم به نجات دوحصه از سه حصه ملك موفق گردیده اند.

ملت مسلمان افغان باوجود شرایط ناگوار وجو استبدادی تحت سلطه نیروهای مختلف محلی، در هر گوشه وکنار کشور از تحریك نجات بخش اسلامی طالبان دعوت به عمل آوردند ومقدم اوشانرا در محلات ومناطق خویش گرامی داشتند.اگر دست ملت ، اراده وهمکاری اوشان درمیان نمیبود بعید مینمود که تحریك اسلامی طالبان به این پیش رفتهای محیرالعقول دست یافته ولایات ومناطق متعددی رایکی بعداز دیگری از لوث نیروهای نادندان مسلح محلی وگروهی نجات بدهند.

اداره ائتلافی وحلقه های حامی منطقوی وبین المللی شان که از حاکمیت شریعت ویك نظام واحد اسلامی مرکزی در کشور افغانیان مجاهد سخت بیم وهراس دارند وآنرا مانعی در راه حصول منافع آزمندانه وحریصانه غیر مجاز خود میدانند چنین وانمود میسازند که پیش رفتها وپیروزیهای تاریخی تحریك اسلامی طالبان نتیجه مداخلات خارجی بخصوص پاکستانیهامیباشد !!! از این ادعای شرم آوراداره ائتلافی چنین معلوم میگردد که تاحال ازتاریخ ملك وملت خویش هیچ آگاهی نداشته واز جهاد این دودهه یی ملت قهرمان افغان مقابل اشغالگران روسی هیچ شناخت بدست نیاورده اند اگر چنین نمیبود هیچگاه تن به چنین ادعای شرم اور نمیدادند که سراسر تحقیر وتوهین ملت مسلمان افغان پنداشته میشود ،ملت که سخت ترین وبدترین حساسیت باتجاوز ، سلطه واثر دشمن خارجی دارند. به یقین که سران اداره ائتلافی تاحال اگاهی ندارند که بزرگترین امپراطوریهای استعماری جهان امثال سکندر، چنگیز، انگریز درکدام کشور وسرزمین به خاك مالیده شد ، وبزرگترین نیروی استعماری معاصر جهان (شوروي) در مقابل کدام ملت به زانو درآمد ومتلاشي گردید اگر از جریانات وواقعات تاریخی متذکره اطلاع میداشتند ابداً تن به چنین ادعاها وتهمتها نمیدادند که سبب توهین وتحقیر ملت بزرگ افغان گردد.

سران اداره ائتلافی که همه محصول دبستان نظامیان منطقه میباشندوبه زور، زر وامکانیات مادی برملت افغان تحمیل گردیده بودند، فراموش کردندکه معیارقدرت وبزرگی گروهای خود را روی قیمدی امکانیات نظامی ومالی که حلقه های اطلاعاتی منطقه دراختیار آنها میگذاشت نشان دهی میکردند به آن تعداد گروها و مجاهدینکه در شبکه های متذکره به اصطلاح رسمیت نداشتند اجازه فعالیت وجهاد رانمیدادند. آیا فراموش کردند که درتحویل اسرار ونقشه های بسی مهم واستراتیژیك نظامی واقتصادی کشور به حلقه های اطلاعاتی منطقه سبقت میجستند؟ آیا فراموش کردند که در گرفتن پلانها وپروگرامهای تخریب منابع بزرگ وحیاتی اقتصادی ، تاریخی و... کشورکه هیچ نوع ارزش واهمیت نظامی نداشت از مراجع اجنبی بریك دیگر پیشی میجستند؟ آیا فراموش کردند که از جریانات وحقایق موجود تاریخی چشم پوشیده بشکل عاطفی وانفعالانه نقشه وطرح کنفدریشن را درمنطقه تقدیم میداشتند؟

آیا فراموش کردند که افتخار بزرگ تاریخ (شکست شوری) راکه ملت مسلمان افغان به قیمت خون ملیونها فرزندان پسر ودختر این مرز وبوم بدست آورده بودند، نتیجه ابتکار جنرالهای منطقه دانسته نشانها ومدالهای فتح را به اوشان تقدیم میداشتند؟

آیا فراموش کردند که مساجد بزرگ تاریخی کشور را بنام این وآن منسوب ونام گزاری میکردند؟ آیا فراموش کردند که از سران دستگاهای اطلاعاتی امنیتي منطقه دعوت میکردند که به حیث مشاور خصوصی آنها به کابل قدم رنجه فرمایند ؟ آیا فراموش کردند که ائتلافها واتحاد های نامقدس عاطفی ومقطعی سروبی وماهیپر به ابتکاروفشار کدام اشخاص وقدرتها جامه عمل پوشید؟ و... با درنظر داشت حقایق متذکره اگر دول منطقه حیثیت مستقل وآزاد افغانستانرا نادیده گرفته در امور داخلی کشور ما مداخله نمایند بعید نخواهد بود زیرا همه راه وچاه کشور افغانیانرا به مداخله گران ، اداره ائتلافی وگروهای داخل درآن ائتلاف نشاندهی ومعرفی داشته است و همین اداره ائتلافی وعناصر داخل آن ائتلاف میباشد که همین اکنون به قدرتهای خارجی چراغ سبزرا نشان داده واز آنها استقبال مینمایند وبه پروگرامهای آنها خود رااعیار میدارند.

تحریك اسلامی طالبان که از میان ملت مسلمان افغان قد برافراشته اند درسایه شریعت غرای محمدی « صلی الله علیه وسلم» به حاکمیت ملی، تمامیت ارضی واستقلال کشور عقیده محکم ووثیق داشته ودارند وبا در نظر داشت منافع ملی واصل عدم مداخله در اموریکدیگر واحترام متقابله با همه کشور های جهان، دول هم سایه خواهان علایق حسنه ونیك میباشد وبه هیچ شکل، نوع ورنگ به احدی از قدرتهای خارجی چی همسایه وچه غیر همسایه اجازه نخواهد داد که در امور داخلی کشور شان مداخله نمایند.

دولت مردان اداره ائتلافی باداشتن ذهنیت غلامانه ومحکومی که دارند پیش رفتهای محیر العقول اخیر تحریك اسلامی طالبان را نسبت به دیگران میدهند در حالیکه دیگران در حل مشکلات ملی انفجار آمیز خود وامانده وافسرده می باشند چه رسد که آنها در راه حل مشکل کشور ما یاری رسانند.

# هیواد ته دمهاجرینو د راستنیدو لړی راروانه ده

دتیرو ۹میاشتو په موده کی زیات شمیر افغانی مهاجر.

دکندهار ، هلمند ، زابل، روزګان ، غزنی اوځینو نورو ولایتونو نه دپاکستان دبلوچستان له ایالت څخه راستانه شویدی. داخبره دمهاجرینو اداری رئیس دخپلو خبرو په لړ کی وکړه وی ویل ځرنګه چی اوس الحمد لله دطالبانو داسلامی تحریك ترکنټرول لاندی سیمو کښی بشپړ امنیت تأمین او دوطنوالو ننګ ناموس سر اومال محفوظ دی،

نوځکه مهاجر افغانان بیرته خپل هیواد ته راستنیږی او دالړی دوام لری چی پدی لړ کی دتیر کال دعقرب له میاشتی څخه تر اوسه پوری کندهار ، هلمند ، زابل ،غزنی ، روزګان اوځینو نوروولایتونو ته ۳٤۲۳ کورنی راستانه شوی او دمهاجرو د اداری U.N.H.C.R او W.F.P د اداراتو لخوا ۱۰۲۷ تنه غنم او اوولس میلیونه یوسلو پنځلس زره افغانی مرسته ورسره شوی ده .


**SHARIAT WEEKLY**

Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C: CD. No.1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan